لویه خدایه لویه خدایه ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوی کی تـوله ژوی په ځاری کـی
دلته دی دغرولمنی زمونږ کیږدی دی په کـی پلـنی
دا وګړی ډیر کړي خدایه لویه خدایه لویه خدایه

بسم الله الرحمن الرحیم

# HARAKAT حرکت

Scientific, Political and Cultural

دوه میاشتنی علمی ، سیا سی او کلتوری خپرونه



مؤسس او چلوونکی:
داکتر سید شیر آقا حرکت
د تأسیس کال: ۱۳۸۳ هـ ش
Harakat
Albert-Schweitzer str. 8
45279 Essen, Germany
Tel.+49 201 5367430
E-mail: harakat_s@hotmail.com



پنځم کال ، دوهمه او دریمه ګنه پرلپسی ۲۶او۲۷ګنه د ۱۳۸۸لمریز کال د سرطان او سنبلي میاشتي V ol No. 26 and 27 Jun - September 2009 لومړي مخ


# دحرکت خپروني پنځمه کلیزه

دافغانستان ،افغان اولس او افغانیت او پښتونولۍ سره زما مناسبت ، لکه دحرکت د مفهوم سره ، د ځانګړي مستعار نوم ،دخپروني دنوم او دعلمي تیزس د نوم په حیث دري اړخیزه، د بل هر ارزش ځخه با ارزشه اوددغه ارزشونو په وړاندي زمادریز یواځي دهغه شاعر په قول چي واي:

چي زما دبڼ اغزي ته کاږه ګوري
وایم اور شوي دهغه په ګلستان

به همیشه یو شان پاتي وي . پنځه کاله دمخه مادخصوصي مطبوعاتي فعالیت په پیل سره خپل دغه دریز د هیواد ،خلکو ،خپل علمي تیزس او دنړیوالو ذات البیني اړیکو په باره کي په لنډول داسي فورمولبندي او د خپلي خپروني له لاري مي د نړیوالو تر اګاهي او پوهاوي رسولي وو. *(پاتی په دوهم مخ کی)*

## په افغانستان کی د لویدیځ ناکامي او په هیواد کی راتلونکي ګواښونه

***سید سلیمان اشنا***

په ۴ مخ کي ولولئ

## ستاره اخکزۍ نه یواځي د فردي وحشي ترور قرباني ، بلکه . . .

کاندید اکادمیسن ظاهر افق

په ۵ مخ کي ولولئ

## فهم ما از مذاکره با مخالفین و طالبان!

دوکتور صلاح الدین سعیدی

په ۷ مخ کي ولولئ

دوکتور م ، ع ، روستار تره کی

## دپښتونستان دداعي په سر باندي داوباما ،زرداري او کرزي معامله

په ۱۱ مخ کي ولولئ

## دایران دولت اساسی تشکیلاتو اوندو ته لنډه کتنه

پوهنمل نوزادي

په ۱۳ مخ کي ولولئ

فلسفي بحث په ۱۴ مخ کي ولولئ ډاکټر حرکت

## روح ـ ظهور ، بدلون او پا یښت ئي

## خپلواکي د ډالرو په شرنګ ، د بوتل په کړنګ او د اهسته برو په تال کي

ډاکټر رحمت ربي زیرکیار

په ۲۲ مخ کي ولوئ

د لومړي مخ پاتي

# دحرکت خپروني پنځمه کلیزه

ډاکټر حرکت

حرکت د یوي خپروني نوم دي چي دمطبوعاتي نړۍ په ورشو نوي قدم ږدي .دغه نوم که پرون د شخصي یا کورني تخلص،نن د خپروني دنوم او سبا ته به د پوهانو په شریکه هڅه په نوي فلسفي فکري محور، نوي علمي څیړنیز متوداو یا نوي فلسفي مکتب بدلیږي ،په ټولو حالاتو کي ددغه فلسفي ـ فزیکی مقولي لوي جهاني تکویني ماهیت تل په نظر کي وو او اوس هم پدي عقیده یم چي حرکت د نوي فلسفي طرز تفکر نوم دي چي ټولي پدیدي او واقعیتونه یواځي دعلمي منطق ،استدلال او مناسبتونو له مخي پرته له ذهنیگریو په پوره امانت دارۍ سره څیړي او دتل دپاره په علمي اصولو او قوانینوباور لري او ورته وفاداره پاتي کیږي.

دا نومونه به هیڅکله شخصي ځانگړي اړه ونلري اوویاړ به ئي دهغه چا په نصب وي چي پدي لار کي زیات زیار وګالي ، زیاتي بریاوي ترلاسه کړي او ددغه نوي فلسفي طرز تفکر د قوانینو او مقولودفورمولبندیوپه سیستماتیک تشکل اودیوه نوي فلسفي مکتب دارګانیک علمي جوړښت په رامنځته کولو کي پایدار او چټک قدمونه واخلي .خو زما په عقیده دغه ډول پدیدي همیشه دعصر او زمان دجمعي شعور مظهراود حي علي الفلا ح چیغه وي چي یوه تاریخي مرحله په بله اړوي،د اولسونو دقیوداتو کړۍ ماتوي ،نوي ساه او نوي ازادي ګاني وربښي نو ځکه ئي ویاړ او ګټي هم جمعي او شریکي وي.

دا خپرونه چي ټول سیاسي ،ټولنیز او اقتصادي مسائل به په عام ډول علما ً څیړي خو په خاص ډول به دنوي فلسفي فکري نظرلار تعقیبوي . نو ځکه ئي د « **حرکت** »په نامه نوموؤ . حرکت په عالم الاسباب کی د خداي دلوي علم دعامي قانونمندۍ او دهغي دټولو خصوصي حالتونو په پروسه کي دټولو پدیدو دظهور او متقابلو اړونده مناسباتو دعلت او معلول مسبب ګڼل کیږي. دالوي جهان موجود دي ځکه چي متحرک دي او متحرک دي ځکه چي موجود دي.دا جهان همغومره متنوع ،متفاوت ، رنګارنګ او متغیر دي لکه څومره چي حرکتونه متنوع، متفاوت ، رنګارنګ او متغیر دي. دا جهان همغوره ابدي دي لکه څوره چي حرکت ابدي دي .لوي خداي دخپل لوي علم دعامي قانونمندۍ له مخي دلوي جهان او حرکت متقابل ابدیت او موجودیت یو تربله سره لازمي ابدي علت او معلول او قائم با الذات اوخلل ناپذیر ګرځولي او یواځي دقضاء او قدردلوي علم دجبر او اختیار له مخي په هغي کي تغیر او تصرف ممکن ګڼل کیدي شي.

پدي ورستیو وختونو کي په افغانستان او دهغي دباندي ډیري خپروني خپریږي. هغه څوک چي په ایمان دارۍ سره دغه کار سرته رسوي او هدف ئي ټولنیز خدمت وي ، مونږ ئي هرکلي کوؤ . ددغه خپرونو په سرخطونو کي معمولا ً لیکل کیږي : بي طرفه ، ازاده ، مستقله ، ملي ،اسلامي او داسي نور .مونږ ټولي دغه ډول پدیدي نسبي ګڼونو ځکه دلومړۍ ورځي څخه وایو چي مونږ هیڅکله بي طرفه نه یو .مونږ ټاکلي او مشخص هدف، طرف او ارمان لرو . زمونږ طرف دهرڅه دمخه زمونږ ګران هیواد افغانستان ، افغان اولس، دهغوئ ملي ګټي ،منلي رسوم ، عنعنات ،عقاید او مقدسات او وروسته له هغي بین المللي او عام انساني تعلقات او تعهدات دي چي په پوره ایمان دارۍ به دهغي پلوي او دفاع کوؤ او نور به هم دي کار ته اړ باسو .

د ازادۍ، استقلال او ملي موقف په باره کي زمونږ نظر دادي چي دقضاء او قدر دعام قانون له مخي مطلق مختار او مطلق مجبور وجود نلري او هر اولس ،، هر دولت او هر څوک پرته له امتیاز څخه مجبور او مکلف دي یو شان بین المللي عامه نظم ، منل شویو تعهداتو ،قوانینواو نورماتیفونو ته غاړه کښېږدي . دسر غړونو په صورت کي به زمونږ دریز دهمیش دپاره متقابل وي.

د ملي او بین المللي تناسب په سیالۍ کي به زمونږ موضعګیري دتل لپاره د بین المللي اصولو او قوانینو په نظر کي نیولو سره سره دملي موقف څخه د کلکي دفاع په طرف وي.

اسلام زمونږ دافغانانو او دیوه ملیارد څخه زیاتو مسلمانانو بر حق دین دي. په هغي پا بند او کلک معتقد یو . د نورو ادیانو دپلویانو درناوي کوؤ ، په مقابل کي ئي دجبر او زور استعمال روا نه بولواو یواځي د «وما علینا الا ا لبلاغ »

اصل او حکم ته معتقد يو. خو هغه څوک چي په ناروا او سپين سترګتوب سره تروريزم ،بنياد ګرائي او يا بل هر ډول خرافات داسلام دنوم سره تړي او پدي بهانه خپل ناروا سياسي اهداف پر مخ بيائي زمونږ دپاره هيڅکله دمنلو وړندي او پدي باره کي سپيناوي خپله ملي او اسلامي دنده بولو.

مونږ افغانستان دټولو افغانانو ګډ کور بولو اوکومي دښمنئ او بي اتفاقئ چي دمغرضو هيوادونو او دهغوئ دېرېخو لخوا دورونو قومونو تر منځ ايجاد شوي دهغي دله منځه وړلو او دوروری دباوري فضاء درامنځته کولو دپاره به هڅه کوؤ.

مونږ پدي کلک باور لروچي دافغان اولس خوشبختي ، پرمختګ او پايښت په ملي وحدت کي دي. هغه به دسترګو دکسي په څير دبين الافغاني او بين المللي منل شوؤ اصولو له مخي په پوره ايمانداری او تقوا سره ساتو.

مونږ دګاونډي ، اسلامي او دنړی دټولو هيوادونو سره د بين المللي قوانينو او اصولو سره سم سيال مناسبات او دوستي غواړو او په دغه اصولو پا بندي خپله ملي ، اسلامي او بين المللي مسؤليت او دين ګڼو او دمتقابل لوري څخه هم همدغه ډول تقاضا لرو.

مونږ په بين المللي منل شوؤ قوانينو ،اصولو ،تعهداتو، منشورونو ،پريکړو ، . . .باندي دټولو لويو او وړو هيوادونو يو شان پابندي غواړواو داکارد بين المللي نيکو اړيکو،دتروريز م له منځه وړلو اونړيوالي سولي دتأمين عمده او اساسي اصل او يواځيني ضامن ګڼو.

زمونږ دغه تعهد د نړيوالو منل شوو قوانينو ،اصولو او نورماتيفونو سره په سمونکي طرحه شوي او په نړی کي د ټولنيز عدالت ، نړيوالي سراسري سولي او په سوله کي د ټولو نړيوالو د يوشان ګډه ژوند ، دبشر دمتقابلو يوشان حقوقو او وجايبو تأمين يواځيني متضن ګڼل کيږي . نو ځکه ئي منل او ملاتړ د هر اولس او هر چا لپاره حتمي او ضروري ګڼل کيږي.

پنځه کاله پوره مونږ د خپلو هيواد والو او دوستانود بي غرضه او بيشائيبه مرستو په ملاتړ دغه ارمان په پوره رښتينولی او امانتداری سره روزلي او پاللي او لدي وروسته هم زمونږ دغه عزم او نيت نه ماتيدونکي او خلل ناپذيره دي ،زه د خپلو هغو دوستانو او هيوادوالو دنيکو مشورو او ملاتړ څخه د زړه له کومي مننه کوم . کوم شي چي ما ډير زوروي ،هغه په علمي سفرکي زما يوازيتوب دي . که نه ،همغسي چي دځيني دوستانو په مشوره مي خپلي ليکني لومړي په پښتو ژبه بيل کړي ،کولي مي شول ، په موازي ډول په دري ، روسي اود دوستانو په ملاتړ په انګليسي او الماني ژبو هم وړاندي کړم. شک نشته دغه ډول علمي سفرونه معمولاً يواځي وي . خو داهيڅکله ددي معنا نلري چي څوک دي،د ملي ،قومي،ژبني،مذهبي او تعصباتو او تنګنظری له مخي،د علم څخه د کرکي دلايل ولټو ي . زه ديوه افغان په حيث د علم او قانونمندی نه خبري کوم ، زه مدعي نه يم چي ټولي خبري مي رښتيا دي ،زه غواړم ستاسي انتقادونه واورم ، ما له لغزشونو او ښو ئيدو څخه وژغوری ، لا اقل يوه دحق خبره اظهار کړي ، له ما سره هرڅوک هر نيت او تعصب لرلي شي ، دعلم سره څه تعصب ،علم ټولنيزه پديده او په ټولنيز مشترک ملاتړ تر سره کيږي. دعلم سره بد دځان سره بد او ښه ئي دځان سره ښه دي.

کوم ازمايش او کومه جفاء چي د افغانستان په جنګي تياتر کي د افغان اولس سره نژدي ديرش کاله د نړيوالي اوداخلي افغاني مافيا لخوا دټولو منل شوو قوانينو او نورمونو په خلاف دوام لري ،هيڅ توجيه او دليل ورته وجود نلري او نه بي ګناه او بي دفاع افغان اولس ددي سزاوار ګڼل کيږي . په افغانستان کي اوسنئ وضعه او حالت د جنوسايداو نسل کشی څخه پرته په بل ډول نشي تعريفيدلي. تر اوسه پوري ډير په جنګي جرمونو تورن جنګسالاران دافغانستان په جنګي تياتر کي وازمايل شول ،خو وضعه له يوي ورځي څخه بلي ته بتريږي. انګريزانو د خپلو پخو انيو تجربو څخه ليکلي چي : افغانستان ته دلښکرو ننوتل اسان کار دي ،مشکل ئی ساتل او د هغي څخه بد تر ئي وتل دي . په برطانوي لښکرو بيا هغه پخواني قيامت راغلي دي. مونږ همغسي چي د افغانانو د مرګ ژوبلي پلوي نه يو ، د بهرنيانو مرګ ژوبله هم نه غواړو . معلوميږي چي بهرنيانو په افغانستان کي د لښکرو خو لا څه چي د قرارګاهو د ساتني استعداد له لاسه ورکړي ، نو ځکه ئي د ګرځنده هوائي محلات دقوماندو لپاره ئي « اواکس » الوتکي استخدام کړي . افغانان زور نه مني ، يواځی ښه نيت مني . راشئ ټول خپل ښه نيتونه ددغه ستونځي د حل لپاره سره يو کړو په غير صورت کي به ئي پايلي لکه دتل په خيروي .

# په افغانستان کی د لویدیځ ناکامي او په هیواد کی راتلونکي ګواښونه

سید سلیمان اشنا

د کال ۱۹۷۳ رادیخوا افغانستان د نړی د ځانګړی توجه وړ ګرځیدلی او په اسانی ویلی شوو چی د نړی د سترو قدرتونو د نړیوالو معاضلو پر سر راکړه ورکړه په همدی هیواد کی برابریږي که هغه په جنوبي اسیا کی د روسیی ګټی دي او که په منځنۍ اسیا او منځنۍ ختیځ کی د لویدیځوالو ګټی د ۱۹۷۹ په دسمبر میاشت کی د کمونیستي یرغل چی د ۱۹۸۸ می میاشتی پوری یی دوام وکړ او د یونیم ملیون افغانانو د ژوند د لاسه ورکولو په بیه تمام شو تر هغه وروسته دا غرنی سیمه مطلقاً د لویدیځ او پخواني شوروي د نړیوالو سیالیو ډګر او یا د سړی جګړی په لمړی کربښه بدله شوه

د لویدیځ ملیاردونو ډالرو د مصرف او مدرنه پوځي وسلو په استعمال د مهاجرو افغانانو نه جنګي جبهی جوړی او په افغانستان کی د شوروي د ماتي پروګرام البته د جهاد په نوم پیل او د شوروي د ماتیدو وروسته غربیانو د ا سیمه د جهاد د بري د امتیاز په توګه ګاونډیو هیوادونو ته وسپارله او له امله یی په نوییمه لسیزه کی د وسله والو ډلو ترمنځ کورنی جګړه پیل او نتیجه یی کولی شئ د یوتیوپ په انټرنتي پاڼو کی وګورئ

د نوییمی لسیزی د کورنۍ جګړی وروسته په کال نونلس شپږنوي کی د ګاونډیو هیوادونو د خپلو سیمه ایزه رقابتونو د پرمخ بیولو لپاره د کمونیستي نظام د مجاهدینو د قوماندانانو د شړل شوو ټوپکوالاو او د پاکستان په مدرسو کی د یتیمو طالبانو ډلی په وسلو سمبال او هیواد ته د خپلو ملي هدفونو د پلي کولو لپاره واستول شوئ چی تاسو کولی شئ په هره انځوریزه انټرنتي پاڼه کی د طالبانو د شپږ کلنی دوری ځنی نه هیریدونکی کارنامی وګورئ؟

خو پوښتنه داده چی ولی لویدیځ یو ځل بیا په سیمه کی علاقه پیدا کړه او د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په میاشت کی په نیویارک کی پر نړیوالو تجارتي مرکزونو د مجهوله بریدونو وروسته په افغانستان کی پر هغو سخت دریځو خو د لویدیځ او د هغوی د تیلو د متحدو ملګرو عربانو په پیسو جوړ د ملاعمر او اسامه بن لادن امپراطوري ړنګه او د نوي افغانستان د پیل په نوم د نړی ستر قدرتونه او ستر دفاعي تړون یعنی ناټو دغه غرني جګړو ځپلي هیواد ته د لسګونو زرو پوځیانو د لیږلو هوډ وکړ؟ او اوس چی د تروریزم خلاف جګړه خپل نهم کال ته رسیږي لاهم د هیواد په ختیځو کورنو کی د القاعدی او طالبانو سره په جګړه اخته او د بریا نښی یی نه ترسترګو کیږي؟

د روسیی چین او ایران د مثلث ماتولو او یا هم د هغوئ د پروګرامونو د نژدی څار لپاره د ناټو سره دا دلچسپي وه چی باید په سیمه کی د لویدیځ لخوا د جوړ شوي سیاسي اسلام پاکستان نه یو ګام مخکی ولاړ شي او د پخواني شوروي د په ټپه ولاړ اقتصاد لرونکو هیوادونو سره په سیاسي کار کولو او د روسیی لپاره په څو برخو کی د اندیښنو د پیدا کولو لپاره د روسیی پولی کی پوځي اډی جوړی کړي

د ورتلو سره سم په ختیځه اروپا هیوادونو پولنډ او چک جمهوریتونو کی د میزایلو د دفاعي سیستم خبره امریکا جدي ونیوله او د ایران اتومي پروګرام یی بهانه شو په ګرجستان کی د ابخازیه او جنوبي اوسیتیا د بیرته نیولو لپاره یی ګرجي حکومت وهڅو ترڅو د روسی په جنوبي لمن کی اور بل کړي او ترڅنګ یی په افغانستان کی د ټنونو تریاکو او هیرویینو د قاچاق په وسیله د روسی او ایران حکومتونه د مخدره موادو د نړیوالو مافیا د جګړی سره مخ کړي خو دا ټولی هڅی لاهم خپلو نتیجو ته ندی رسیدلي او بل اخره لویدیځ داسی و انګیرل چی د ۲۰۰۲ کال راهیسی حامد کرزی د فاسد حکومت په څوکئ تکیه وهلی او د هماغه ورځی رادیخوا یی د خپلو زرګونو افغانانو د وینی تویدو نندراره کړی خو هیڅ کله یی د عالمو او پوهو افغانانو سره د حکومت د شریکولو زمینه جوړه نه کړه او همدا وجه ده چی نن لویدیځ او په خاصه امریکا د کرزي د بدیل لپاره متی ونغاړلی

که څه هم په پوره اندازه به داسی قضاوت غلط وي چی وویل شي د افغانستان به تیر ه وروستی لسیزه کی افغانان ګرم دي او که لویدیځوال خو د ځنو څیړونکو به وینا چی کله په افغانستان کی د ټوپکوالو او جنګي مجرمینو سره حامد کرزي جوړ جاړی وکړ او یا د ملي مشارکت به نوم یی خپله ډله جوړه کړه نو د زیاتو کارپوهه افغانانو سره دا ویره او نظر پیدا شو چی د کرزي د بی مسولیته او فاسدی اداری په کلونو دوام او د ځنو غیر موثره پرمختګونو سره سره په مهمو ځانګو لکه امنیت او په ټول هیواد کی خلکو ته د کار او پرمختګ د زمینی نه برابرولو حالات داسی راوستل چی یتیم طالبان د خپلو پخوانیو منابعو په شمول به هیواد کی دننه د اپینو د تجارت نه پیسی لاسته راوړي او د کابل او د نړی د سترو شاوخوا څلویښتو هیوادونو مقابل کی یوه پیاوړی داسی ځواک په توګه ځان مطرح کړي چی اوس پخپله غربیان غواړي په یوه نه یوه بهانه د هغوی سره مذاکری ته لاره پیدا کړي او د شدیده اسلامي قوانینو په لرلو سره خپله د دیموکراسی شعار شاته وساتي

خو ویره داده چی که چیرته دا لړی همداسی دوام وکړي او حامدکرزی چی یو ځل بیا یی راتلونکو انتخاباتو کی د جمهوري ریاست لپاره ځان کاندید او د تیرو دری کالو راهیسی یی ځانته د بری ټول شرایط مساعد کړي او په حکومتي تګلاره کی یی ترپخوانیو اته کالو هیڅ ډول بدلون هم نه لیدل کیږي داسی بریښي چی پدی هیواد کی جګړه یو ځل بیا په لسیزو دوام وکړي او ویلی شوو چی ښایی د سیمی او په ځانګړی توګه د افغانستان جګړه د افغانستان په اړه د امریکا د جمهور ریس بارک اوباما نوی ستراتیژي هم ناکامه او حتی د اوباما د حکومت د ناکامی سبب وګرځي

نن په افغانستان کی د غربي بهرنیو ځواکونو شمیرنژدی سل زرو ته رسیږي چی دوه پر دری برخی یی د امریکا

پوځونه تشکیلوي او په نړی کی د لوړی بیی جګړه بلل کیږي

د اوباما هڅه داده چی په هرډول اوسي خو چی د افغانستان جګړه وګټي او خپلو کورنیو ناندرو ته د پای ټکی کیږدي خو متاسفانه چی اوس د افغانستان مسله د امریکا لپاره د کورني امنیت په توګه یوه داخلي امنیتي موْضوع حیثیت موندلی او د خپلو جمهوري غوښتونکو سیالانو سره د اختلاف سره سره اوس د سناتور جان مککین چی که چیرته د ۲۰۰۸ کال په نومبر کی بریالی شوی وی نو د طالبانو د ځپلو لپاره یی یوازی پر پوځي ارخ ټینګار کاوه کوم چی اوباما اوس د هغه جنګي ستراتیژی ته رجوع کوي او افغانستان ته د لسګونو زرو نورو عسکرو په لیږلو غواړي د جګړی د لاری په سیمه کی وروستی د ظفرخان ګوزار ترسره او وروسته ښایی د سیمی پښتی سپکی کړي چی عواقب به یی د ا فغانانو لپاره بیاهم د تباهی مرګژوبلی او د ګاونډیو د شدیدی مداخلی بل څه نه وي؟

اما ددی ټولو په مخ کی پرتو واقعیتونو سره سره د امریکا د پوځیانو نه داسی هیله نه کیږي چی کوم ځرګند بری دی ترلاسه کړي

او نتیجه داسی ښکاري چی د مقابل ځواک یعنی د طالبانو سره یوی پریکړی ته ورسیږي

اوس په واشنګټن کی سیاسي څارونکي داسی تبصری کوي چی که چیرته د افغانستان راتلونکی منتخب حکومت ونه شي کړی چی په هیواد کی پرمختګونه وکړي او د طالبانو اهداف بی معنی او بی ګټی ثابت نه کړي نو امکان شته چی طالبان د خلکو رایه لاسته راوړي او په اسانی وکړی شي چی افغانستان کی یوځل بیا خپل د تشدد او پاکستاني جنرالانو پټی ستراتیژیانی عملیي کړي

او افغانستان د امریکا لپاره په یویشتمه پیړی کی د دویم یونان په کیسه بدل کړي پدی برخه کی یو بریتانوی لیکوال او سیاسي مبصر پاول راګر تحلیلونه زیات دقیق دي او کولی شی چی د نوموړي د یوی مهمی مقالی چی عنوان یی دی ،

<u>ولی موږ د ترهګري په وړاندی جګړه بایلو؟</u>

نو په دغه ویبپاڼه کی یی ولولی.

<u>www.polity.co.uk/book.asp?ref</u>
>-/<u>=9780745641966</u>

که چیرته غواړو چی مشخصأ د افغانستان د راتلونکی په هکله پوره او یو څه دقیق تحلیل ولروو نو ښه به داوي چی موږ له ځانه څو پوښتنی وکړو..

لمړی : که چیرته حامدکرزی په انتخاباتو کی بری ترلاسه کړي نو لویدیځ به خپله نوی ستراتیژي د افغانستان د ازمویل شوی ډلی سره څنګه پرمخ بیایي؟

دویمه : که چیرته بل کاندید بری ترلاسه کړي نو د امریکا د بري او د افغانستان د ثبات راتلو څومره امکان شته؟

دریمه : که چیرته د موجوده سیاسي مشرانو یو مشترک ایتلاف رامنځ ته شي نو په هغه صورت کی به د افغانستان لپاره څومره ګټور تمام شي؟

تر پورته دواړو شرایطو دریمی پوښتنی ته ترجیح ورکول ښه دي او هیله لروو چی اوسنی مشران ډیر زر ملي ګټی په پام کی وساتي او د یوپر بل د انتقاد له امله د جوړو شوو تګلارو تیر او پر ملي مسلی زیات ټینګار وکړي او د انتخاباتو پوری خپل یو کاندید وړاندی کړي دا به کومه ستونزه نه وي که د انتخاباتو په پاڼو کی د ۴۱ کاندیدانو نومونه چاپ شوی دي.

په افغانستان کی د لویدیځ او طالب یاغیانو په ګوریلایی جګړو کی د ګاونډیو د لاس وهنی او لویدیځ ته د متوجه ګواښونو په اړوند د ځنو شواهدو په شمول بله مقاله به هم تاسو به نژدی کی د همدغی رسنۍ د لاری ولولئ.

## ستاره اڅکزۍ نه یواځي د فردي وحشي ترور قرباني ،بلکه ددولتي ـ ناټوئي اداري دبي همتۍ او ټکمارۍ ثمره هم ګڼل کیږي

<u>کاندید اکادمیسن ظاهر افق</u>

ستاره اڅکزۍ د کندهار د ښار په یوي ستري مخوري او منوري کورنۍ کي پنځوس کاله پخوا پدي نړۍ کي د مومړي ځل لپاره سترګي غړولي او دمحمد انور خان اڅکزي وروستۍ او نازولي اولاد ګڼل کیده .محمد انور خان اڅکزي چي د پوهي او تجربو څښتن وو ، نه یواځي ئي د ویښو ځلمیانو د انقلابي او وطني ګوند رهبري د نورو مشرانو سره یوځاي په غاړه درلوده بلکه په هغه وختکي چي کندهار اشغال شوي وو (۱۹۲۹ ) محمد انور خان اڅکزي د خپل قوم په مشرۍ د کندهار د نورو وروڼو قومونو سره یو ځاي د کندهار ښار د خلاصون په خاطر کلکي مبارزي وکړي او بشپړ بري ته ورسیده.

کله چي د ویښ ځلمیانو وطنپال جنبش ددولتي استبداد لخوا وټکول شو،محمد انورخان اڅکزي د نورو مشرانو په ډله کي ،چي ټولو ورته په درنه سترګه کتل ،هم ددهمزنګ په خوراچټل زندان کي بندي او له شپږو کلونو څخه زیاته موده په بند کي پاتي شو.

محمد انور خان اڅکزي به خپلو اولادونو او لمسیانو حاجي کاکا باله . هغه وخت چي حاجي کاکا د دهمزنګ په تورو کوټو کي ژوند کاوه ، ستاري اڅکزۍ د یوي وړوکي ځیرکي نجلۍ په څیر د خپلو نورو خویندو او همزولو سره په داسي وخت کي د ښوونځي هیله درلوده چي په محیط کي لا دنجونو او ښځو مکتبونه پوره نه وو رواج شوي . ستاري په همدغه شرایطو کي لومړنۍ ،منځنۍ او تر دولسم ټولګي پوري زده کړي په کندهار کي پاي ته ورسولي . ستاري اڅکزۍ پدي بسنه ونکړه ، د عالي زده کړو په خاطر دکابل په پوهنتون کي شامله ، دتاریخ او جغرافیۍ د پوهنځي شهادتنامه ئي په میړانه او همت سره ترلاسهاو دټولنید خدمت لپاره

ئي ځان اماده کړ. ستاري اڅکزۍ د وطن دبچیانو د ښووني او روزني سپیڅلي دنده غوره او ډیره ژر د ښوونکي په حیث په کندهار کي دزرغوني اناپه لیسي کي مقرره شوه .دي د خپل صداقت او میړاني له مخیپه خپلي لیسي او نورو همسایه موسسوکي پوره شهرت وموند او دیوي هوښیاري او زحمتکشي ښوونکي ئي صفتونه پر هره خوا خپاره شول. کله چي کندهار د هیواد دنورو سیمو په شان د ناارامیو ،خرابیو او جهالتونو قرباني کیده،نو دټولني ډیرو منورینواو روشنفکرانو د خارجپه خوا مهاجرتونه پیل کړل. البته استعماري هیوادونو چي د هیواد د ناارامیو په راوستلو کي پوره برخه درلوده نو ئي دنومړو روشنفکرانو او منورینو د استخدامولولپاره پوره داسي تبلیغات وکړل، څو دمنورینو سیلونه امریکا او اروپاته جلا وطنه او دهغوئ د بازارونو د ډکولوپه خاطر ئي ځانونه ور وسپارل. په دغه وخت کي چي ستاره اڅکزۍ هم د سختو مجبوریتونو او نا امنیو سره مخامخ وه ،د المان هیواد ته ئي ځان ورساوه. هلته ئي په ډیر وخت کي جرمني ژبه زده کړهاو وروسته ئي خپل ځانته مناسب دخپلي خوښي کار وموند او ډوډۍ ئي دخپلو متو په زور گټله او خوړله.

ستاره اڅکزۍ  په جرمني کي د ډاکټر درویزه اڅکزي سره پیژندگلوي پیداکړه او څرنگه چي هغه محمد انورخان اڅکزي د قوم دمشر په حیث پیژندهنوئي د ستاري سره نوره هم دوستیدومره ډیره شوه ، چي لږ وخت  وروسته ئي واده ورسره وکړ او گډ ژوند ئي سره پیل کړ.د ډاکټر درویزه تحصیلات چي په طبیعي علومو کي وو ،د ستاري په مرسته ئي د پښتو ـ جرمني ژبو قاموس د هیواد والو لپاره تالیف کړ . دي دعلم او پوهي څښتنانو ښه شیرین ژوند غوره کړ. په ۲۰۰۱ م کال کي د امریکا په رهبرۍ د ناټو دپاکت غړیو پر افغانستان باندي یرغل وکړ او دتروریز په بهانه ئي افغانستان اشغال کړ . ( بوش ) فکر کاوه چي افغانستان به ژر تسخیر او دخپلو استعماري پروژو د تطبیق لاري چاري به په لږه موده کي سرته ورسوي ،خو برعکس افغانستان د اوښ د هدوکي په څیر د ناټو په خوله کي داسي بند شوچي نه ئی تیرولاي او نه ئي غورځولاي شي . البته ،دناټو دواکدارانو تبلیغ قوي او خطا ایستونکي وو چي ډیر اغانان داروپا او امریکا څخه خپل هیواد ته ستانه شول. په دغه ډله کي ستاره اڅکزۍ او ډاکټر درویزه اڅکزي چي د وطن د ابادولو میني وختي لا هڅولي وو ،نو ئي تصمیم ونیوه چي هیواد ته ولاړ شیاو خپلو اولسونو ته په میړانیسره خدمت وکړي.

کله چي ستاره اڅکزۍاو میړه ئي دواړه کندهار ته ولاړل،هلته حالات ډیر ناارامه وو . په ډیر زحمت ډاکټر درویزه په پوهنتون کي وظیفه پیداکړه ، او څه وخت وروسته ستاري اڅکزۍ دکندهارپه ولایتي شوراکي عضویت وموند . دا نو داسي وخت دي چي د ناټو د قوتونو د بمباریو او وژنو په نتیجه کي خه څه تروریستان او جنگیالان وو او یانه ،خو اوس هر سړي مخالف او د امریکا پر ضدنه یواځي خبري کوي بلکه په مسلحانه اعمالو سره ئي لاس پوري کړي او خصوصاً ئي د طالبانو په نامه ددولت مامورینو ته داسي اخطارونه ورکړل چي که د امریکا په پرطرفدار حکو مت کي ،خاصتاً ښځي ولیدل شي ، نو ئي وژني. البته د ښځو په مقابل کي دښمن ذهنیت د مجاهدینو تر پوري لا نه وو موجود خو دهغوئ او بیا دطالبانو دراتگ سره سم د ښځو دازادۍ پرضد دښمني قدم په قدم زیاته شوه . هر څومره چي امریکائي تاړاکگرانو مرگونه او ترورونه زیت کړلپه هغه اندازه ئی مخالفینو ، په سرکي ئي طالبانو نه یواځي پر خارجیانو حملي قوي کړي بلکه دداخلي معضومو او بي گناه اشخاضو پر ضد ئي چي گواکي ددولت مامورین دي هم وارونه او وژنیډیري کړي .

پدي لړ کي ستاره اڅکزۍ د یوي قهرماني په حیث په ډیري دلاورۍ سره خپلي وظیفي ته ادامه ورکړه . خو دلته ډیره مهمه داده چي ستاري اڅکزۍ دنورو خلکو خصوصاً دغریبو خلکو او په خاص ډول د ښځو هغه کارونه ور اجراکول کوم چي به د نوکر دولت په بي نظمه او رشوتونو ډکو ادارو کي بند پاته وو . پر همدغه اساس هم ،پنځوس کلنه ستاره اڅکزۍ پر خلکو او اولسونو ډیره گرانه شوي وه . ځکه چي مامورینو به رشوتونه غوښتل خو غریبو خلکو به نه درلودل .نو ځکه په هغه ورځ چي ستاره په شهادت ورسیده د کندهار ټولو غریبو خلکو ورپسي ژړل خو په ډیر تأسف چي حکومتي واکدارانو او کاناډایانو تش دتمساح اوښکي پري  هم توي نکړي . ستاره اڅکزۍ ډیره صادقه ،مهربانه پر وطن مینه ،دعلم او فرهنگ د پرمختگ طرفداره میرمن وه او د همدغه فرهنگي مبارزو په جریان کي کله چي له کوره دکار

په لور تلله دعلم او فرهنگ دښمنانو په شهادت ورسوله . روح دي ښاد وي . د ناټوباداران او نوکران چي ځانونه د ښځو دازادۍ پلویان او قهرمانان بولي د اڅکزۍ په څیر دښځو د حقوقو د یوي مبارزي ساتنه ونه کولاي شوله ، دهیواد اولسونه به څه ډول د هغوئ په خبرو باور ولري ؟ ځکه دا کومه پټه خبره نه وه چي ستاري اڅکزۍ ته په وار وار اخطارونه ورکړاي شوي وو او مسؤل مقامات ټول پدي خبر وو . خو یوه امن ځاي او سیمي ته د هغي د لیږدولو په خاطر هیڅا کوچنۍ توجه هم ونه کړه او پخپله د ستاري اڅکزۍ شخصي هڅي دهغي د ژغورني لپاره ناکافي وي او هیڅکله موثري نه شوي واقع کیدلي . د ستاري اڅکزۍ د شهادت څخه وروسته دکاناډائي اخبارونو او مطبوعاتو لخوا د هغي د قهرمانیو ستاینه او دتروریستانو غندنه ، پرته له وخته وروسته پوچي ډنډوري څخه بله معنا نه درلوده.

د حرکت خپروني کارکوونکي او ملاتړي د کاندید اکادمیسن محترم محمد ظاهر « افق » سره یو ځاي محترم ډاکتر صاحب درویزه اڅکزي اود مرحومي شهیدي میرمن اڅکزۍ کورنۍ ، خپلوانو او دوستانو ته خپل ژور تأثرات وړاندي کوي. مرحومي ته بهترین جنتونه او پاتي کسانوته د اجر عظیم او صبر جمیل دُعاکوي.

# فــهـم مــــا از مـــذاکـــره بـــا مخالـفـیـن و طـالـبـان!

## (مذاکره بامخالف و اپوزیسیون قبول راه حل وی نیست بلکه توافق بر قواعد باز است

**ډاکتر صلاح الدین سعیدي**

آیاسخن به جاء است(چنانچه جنبش طالبان تأکید میدارند): خروج نیروهای خارجی یگانه راه تأمین صلح درافغانستان است؟

آیا در حکومت فعلی افغانستان تمام اداره بی کفایت است ویا هم اراده و کفایت افراد کلیدی بی کفایت است؟

آیا ضرورت به تغییراداره و منجمنت سیاسی افغانستان است؟

آیا جنبش طالبان و نسخه های طالبان الترناتیف نظام و اداره فعلی است؟

آیا این تنها جنبش و حرکت طالبان است که در امر صلح و جنگ در کشور ما افغانستان باید سخن اصلی را داشته باشد و به این ترتیب آیا حرکت طالبان کل واقعیت جامعه افغانی است و یا جـزء؟

آیا مفکوره مذاکره به مخالف و اپوزیسیون مسلح علت اصلی ترس جدی عده از هموطنان است یا معلوم نبودن حدود و ثغور و اجرا کننده این مذاکرات - سبب اصلی ترس و تشویش میباشد؟

آیا هست خطوط سرخ و مسایل که عبور از آن ممکن نیست و هست موارد که به آن توافق شده میتواند؟

آیا در چهار دهه اخیر در افغانستان نیرو های سیاسی وجود داشتند و یا دارند که در قدرت سیاسی قسمی و یا کلی سهیم بودند و در خون ریزی ملت ما سهم نداشته باشند؟

آیا درست است که افغانستان روبه تجزیه میرود و تشکیل نظام وحدت ملی تحت سوال جدی قرار گرفته؟

آیا تأکید برین امر که پنتاگون و غرب در افغانستان هیچگاه جنگ را نخواهد برد - سخن و تأکید دقیق است؟ ما میخواهیم صلح را ببریم و یا جنگ را؟

این و سوال ها مشابه وجود دارد که اذهان ما افغانها را تخریش مینماید. گفته میتوانیم که هریک ازین مطالب به صورت مستـقـل میتواند مورد بحث قرار گرفته و جواب های به آن جستجو گردد. هموطنان و خوانندکان گرامی ازین طریق خواستم بـه سوالات مطروحه تماس گرفته و سطور ذیل را با کمال ادب و احترام جهت تعمق و روشن ساختن اذهان و فهم خویش خدمت شما تقدیم بدارم.

کشور و مردم افغانستان حد اقل درچهار دهه آخیر شاهد حوادث بس خونین و آلمناک بوده که خاطـره هـای آن دراذهان ما زنده است. مردم ما رنج و آلم زیاد کشیدند و هنوز هم زجر میبینند. درین چهار دهه آخیر به خاطر داریم هر زمانیکه آفتاب امید و آرزو صلح و آرامش سر میزند یکبار دیگر ایـن آرزوها و امید های مردم ما به اساس عوامل داخلی و خارجی به خاک و خون کشانیده شده و مادر وطن باز هم به سوگ فرزندش می نشیند. اشک وماتم هموطنان مان قربانی مصالح و منافع خارجی ها و افراد مفسد میگردد.

دیده شده که دست های دراز شده اکثرا صرف و صرف در حفظ منافع خویش متمرکز شده و به مشکل ما افغانها چندان توجه نه نموده اند. بی تفاوتی های جهان به خون و اشک مردم ما حد اقل در سالهای نود قرن گذشته شاهد و گواه دقیق این مدعا است که قربانی این آتش خود شان نیز گردیدند.

حین بررسی عوامل بدبختی، رنج و آلام مردم ما سوالهای زیاد مطرح میگردد که با یافتن جواب درست به آن ما خواهیم توانست نسخه ها و راه های حل درست و دقیق تر را دریابیم.

سوال مطرح میگردد که عوامل این حالت بد و دربدری مردم و کشور ما در چه بوده و راه های حل کدام ها اند؟ راه حل که ایجاب مصارف، قربانی و وقت کمتر را نماید.

موقعیت جغرافیایی افغانستان ؟ همسایه های نهایت قوی افغانستان؟ عقب مانی افغانستان؟ ترکیب اتنیکی افغانسان که از عین اتنیک موجود در افغانستان - تعداد زیاد از عین اتنیک در خارج از افغانستان وجود داشته و این اتنیک کوچک موجود در افغانستان عوض اینکه پل برای کسب کمک و اعمار استعمال گردد وسیله در دست خارجی های قرار گرفته اند و برای نابودی کشور استعمال گردیده اند؟ مسأله دین و مذهب مردم ما ؟ و یا اینکه اعتقاد تقلیدی به دین و عدم آگاهی عوام از منابع و مفاهیم اصلی دین مقدس اسلام؟ وابستگی اکثریت مردم ما به روحانیون و علماء دین (ای کاش علماء و روحانیون بلکی - وابستگی به علماء نما و روحانی نما ) و به تاسی از آن بخش از مزخرفات به نام دین جاء زده شده و به این ترتیب امکان موجودیت سوء استفاده بیشتربوده و از صداقت و پاکی ایمان و خلوص مردم ما سوء استفاده گردیده؟ فهم غیر دقیق از دست های آورد های نیک بشری و کاپی کردن جوانب منفی معیین آن و کاپی کردن های مانند مفاهیم دیموکراسی و آزادی غربی بدون مطابقت دادن آن به شرایط افغانی و یا دیگر افراط و تفریط ها؟

به فهم من این همه عوامل است که جدا قابل دقت بوده و در حین تحلیل وضع ودادن تصویر درست و راه حل مسآله افغانستان باید در نظر گرفته شوند.

همچنان قابل دقت است که گفته شود که شواهد نشان میدهد تا هنوز به صورت درست درگ نه نموده ایم که تشکیل حزب و سازمان سیاسی در یک جامعه به چه معنا است؟

به فهم من تشکیل حزب و سازمان به معنای پیش کش کردن نسخه معیین برای معضله معین است و نه مسابقه برای گرفتن قدرت سیاسی بخاطر پر کردن جیب خود و دزدیدن مال ملت؟ اگر چنین است که منظور و هدف از تأسیس حزب و سازمان سیاسی متحد شدن همفکران بخاطر خدمت به هدف سیاسی معین و توافق بر سر راه های حل و نسخه های معیین مسایل مطروح افغانستان باشد. پس باید اعتراف کرد که راه های حل صد و بیشتر از آن نیست. پس چرا در افغانستان بیشتراز صد حزب سیاسی ثبت و فعالیت مینمایند ؟ دقیق این است که جامعه ما در مرحله معیین از رشد قرار دارد که باید به طرف نور مال شدن به حرکت بافتد. از جانب دیگر هر اقدام غیر طبیعی مانند لغو این احزاب و یا فسخ شان از بالا مشکل را حل نمی کند بلکه این پروسه باید ازپایین آغاز گردد. این احزاب و رهبران شان این واقعیت را باید درک نموده و قطره ها با هم یک جاء شده به جوی چه ها و دریا ها ریخته و به یک نیروی واقعی تبدیل گردند.

آیا در یک کشور صرف یک تن شایستگی ریاست جمهوری و وزیر شدن را دارد و یا هم تعداد زیادی؟آیا پست های مذکور سیاسی است و یا هم مسلکی؟ من زمانی حین ملاقات به یک مسؤل وزارت خارجه یکی از کشور های اروپایی مواجه به سوال دوستانه وصادقانه گردیدم که چرا در افغانستان همه کس میخواهد وزیر شوند و رییس جمهور؟ درحالیکه مشی و راه کرد سیاسی و پالیسی اصلی کشور از پارلمان تعیین میگردد. ( جواب بالمواجه من این بود که پارلمان ها و نمایند های مردم در افغانستان اکثر به صورت رو پوش استفاده شده و کار گردان اصلی قوه اجراییه بوده و .... ).

آیا همه این مسایل تاثیرات خویش را در اذهان و موضع گیری ها و حالت و وضع افغانستان داشته و یا نه؟ به فهم من همه این عوامل و جوانب در کشور ما و جوامع بشری تاثیر گذار بوده و هست.

سوال مطرح است که آیا ما هم حق داریم و خواهیم توانست مانند جوامع مستقر

دیگر جهان سیستم سیاسی مستقر و صلح داشته باشیم و چنین امید موجود است؟

به فهم من بلی و ان شاء الله که چنین شده میتواند. ما باید سرنوشت خویش را در دست خویش گرفته با روحیه عالی و مصمم و برخورد پرگمتیک ( مثلا انتخاب راه کم بد نسبت به بدتر. انتخاب ضرر کم نسبت به ضرر زیاد. یعنی حرکت در ساحه امکانات) با جریت و در چوکات امکانات خویش عمل نمایم.

سوال مطرح است از کدام راه های عملی به این برنامه ها و مراحل رسیده میتوانیم؟ یکی از عمده ترین راه ها و نسخه ها درین مرحله روشن ساختن قواعد بازی و توافق بر کلتورمعیین سیاسی بین الافغانی است. باید اولویت های را تعیین کرد و باید درک کرد و ریالست بود که با کی به کدام اولویت ها و حد اقل ها توافق کرده میتوانیم و باکی توافقات بیشتر و در کدام مسایل برای فعلا توافق ممکن نیست و توافق را باید به آینده و یا هم به ملت مؤکول ساخت.

تأمین صلح درافغانستان یک پروسه است. ما همه روزه فهم و شناخت خویش را تکمیل نموده به گذشته نگاه میکنیم اما در گذشته نباید غرق شده با خوشبینی و مصمم به آینده باید به پیش رفت. ما باید با روش آموزش متداوم، فهم نظر و راه درست و تلاش در تفهم درست خود و دیگران باید کار پیگیر نموده واین برخورد را باید شیوه کار خود و دیگران ساخت. ما باید به سوالات مطروحه بالا - جواب درست پیدا کنیم. در غیر آن به صلح نایل نه خواهیم شد. به این باید معتقد شویم که کلید کار در یافت جواب های درست، ریالستیک، افغانی ، بدون پیش داوری و عملی به سوالات بالا است.

درین جا ء تلاش خواهم کرد با در نظرداشت حوصله مندی شما خوانندگان گرامی به صورت تلگرافی و کوتاه به بحث روی مطالب و سوالات فوق پرداخته و نکات نظر خویش را بالترتیب سوالات ارایه شده در بالا خدمت شما تقدیم بدارم.

چنانچه گفته آمدیم تأکید میدارم تأمین صلح در افغانستان یک پروسه است و عوامل مختلف در آن تأثیر دارند. افغانستان ضرورت به تغیر اداره و منجمنت فعلی دارد. خروج تمام نیرو های خارجی منحیث یک ستراتیژی دقیق و بجاء است. اما واقعیت چنین است که نباید کور خود و بینا دیگران بود و این را درک کرد و دید که تمام جوانب ذیدخل در افغانستان پشتوانه خارجی داشته و این نیرو های خارجی با تمام جوانب به صورت فزیکی حضور دارند. لذا باید ریالست بود و این توقع را از همه جوانب به شمول خود مورد دقت قرار داد. بلی باید مسأله افغانستان افغانی شود. اما قلب من گواهی میدهد که سر بریدن بیرحمانه چند ماه قبل جوانان لغمان در راه هرات و یاهم هلمند، خودکشی های که منجر به قتل انسانها بی گناه گردیده و بمباردمان های کور و کر با دست خارجی ها صورت گرفت و دست افغانی چنین قصی القلبی کرده نمی تواند.

در نظام فعلی آقای حامد کرزی افراد باکفایت هم وجود دارند که دست شان را سیستم بسته و کاری بارز و کلیدی از دست شان پوره نیست. الترناتیف حاکمیت فعلی ونسخه های جنبش طالب نسخه وحل دقیق مشکلات ما نیست. تأمین نسبی صلح متصلا بعد از به قدرت رسیدن جنبش طالب در افغانستان در سالهای نود کدام نسخه آبادی وطن را در پی نداشت و یا هم علی الاقل من از آن آکاهی ندارم. اما آنچه شنیدم و دیدم طرز حاکمیت و نسخه های طالبان را برای مردم افغانستان و کشور خویش سفارش نمی کنم.

باید قبول کرد و دانست که جنبش طالب جزء واقعیت جامعه افغانی و جزء چهره سیاسی افغانستان است نه کل آن. بدون درک و فهم این واقعیت و با لجاجت خود را کل واقعیت و کل چهره سیاسی کشور دانستن نمیتوان منتظر و ناجی صلح بـود – چنین صلح خواب است و خیال. زمان ثابت ساخته وخواهد ساخت که با یکه تازی ها در افغانستان و منطقه صلح تأمین نه خواهد شد. به موفقیت های زود گذر نباید مغرور شد.

چنانچه گفته آمدیم مذاکره با مخالف قبول راه حل وی نیست بلکه روشن ساختن قواعد کاری و قواعد بازی است. چنین است درک من و با چنین مذاکره و مفاهمه موافق هستیم. بدون

درک این واقعیت در افغانستان صلح تأمین نه خواهد شد.

اگر بر برحق بودن راه خود ایمان داریم و اگر زیر کاسه نیم کاسه ای نیست - نباید از صحبت و مذاکر ترس داشته باشیم. ترس باید از حدود و ثغور و قواعد این مذاکرداشت که تا کدام حد و مرز رفته میتوانیم و مشروعیت و صلاحیت این مذاکره به دست کی و سخن آخیررا باید کی داشته باشد؟

ما به مذاکره موافقه داریم که در آن سخن اخیر ، تعیین کننده و اصلی را ملت افغان داشته باشد. اما این مذاکره باید از یک جای آغاز شود.

تفاهم و مذاکره بر سر این نیست که با کارد و چاقو تیز و یا کند حلال کرده میتواند و یا هم کتاب و مکتب را به تیل خاک میسوزاند و یا به تیل پطرول؟ مفاهمه و مذاکره بر سر این نیست که حین کشتن در دشت لیلی میکشند و یا به چاه ها می اندازند؟ مذاکر هم بر سر این نیست که سینه میبرند ویا رقص بسمل میکنند؟ توافق و مذاکر به تقسیم و حیف و میل مال ملت و غنیمت نیست. تفاهم و مذاکر به تقسیم قدرت و کرسی دولتی که به تباهی ملت بانجامد نیست.

تاکید میدارم مذاکر بر سر این است که قواعد بازی و کاری را روشن کرد که سخن آخیر را باید ملت داشته باشد و زمینه این ملت سالاری باید آماده گردد. مذاکره بر این است که حاکمیت قانون و اصول انسانی و اسلامی که سبب صلاح و فلاح همه افغانان و امر صلح جهانی شود – چطور عملی شود و به توافق برسد.

تفاهم و مذاکره بین الافغانی به معنای توافق بر مفهوم مخالف سیاسی ، اپوزیسیون سیاسی و دیگر قواعد تأمین دموکراسی است.

به این توافق صورت گیرد که بخاطر تحقق برنامه ها و نسخه های سیاسی خویش باید به ملت مراجعه کرد. قبولی و عدم قبول، درست بودن و عدم درست بودن و مشروعیت راه های حل و نسخه های خویش را از تصدیق ملت حاصل کرد.

ما در کشور خویش صلح میخواهیم اما این صلح و امنیت به هر قیمت صلح دوامدار بوده نمیتواند.

جنبش طالب و حزب اسلامی و جمعیت اسلامی و با افاده ساده سازی حرکات و سازمان های چپ و راست دیروز و بقایای امروز شان که جزء واقعیت های جامعه ما و چهره واقعی سیاسی جامعه ما را تشکیل میدهند باید نماینده خویش را در ستیج سیاسی کشور داشته باشند.

این است فورمول صلح دوامدار و مستقر.

تا زمانیکه ما این را ندانستیم و قبول نه کنیم ما به صلح نایل شده نمی توانیم.

ما تا زمانیکه به این توافق نه کنیم که راه تحقق و رسیدن به قدرت سیاسی داشتن آدم کش نه بلکه داشتن اراده ملت با خود است.

ما تا زمانیکه به قواعد کاری درین راستا توافق نه کنیم در کشور ما صلح دوامدار نه خواهد آمد.

من میتوانم منحیث تبعه این کشور بگویم و توضیح کنم و موضعیگری نمایم که حرکت و جنبش طالب نسخه های خوب حل مسایل افغانی و مشکلات وطن ما را ندارد. اما حق ندارم مثلا مانند وزیر داخله و یا در رول پست اجراییه دولتی چنین نظر را داشته و در راه عملی آن از صلاحیت اجراییوی خویش استفاده نموده وگستاخانه صلاحیت تمیز راه درست، راه صواب و راه نادرست و نا صواب را از ملت بخود انتقال دهم.

این است رمز گپ و کنه کلام.

بلی برعلاوه تاکیدات فوق مشکل افغانستان زمانی بهتر حل شده میتواند که مداخله بی جاء خارجی قطع گردیده و حل مسایل افغانی شوند.

درپاکستان هر نوع حکومت برقرار باشد مراجع استخباراتی و پالیسی میکران اصلی آنکشور برای مصالح استراتیژی خویش کار خواهند کرد و قابل فهم هم است. مشکل افغانستان با پاکستان از خط دیورند آغاز شده و به حل آن مشکل ما با پاکستان حل خواهد شد. اما میدانیم که سیاست تایمنگ هست و افغانستان به فیصله این امر حالا وخت ندارد وزمینه باید برای حل این موضوع آماده شود. اگر امروز از مخالفین مسلح دولت افغانستان برای عدم استقرار کشور ما به این نام های فعلی استفاده میگردد مطمین ام فردا نام دیگر بر آن گذاشته خواهد شد.

ما به کمک خیرخواهانه معیین، محدود و تعریف شده خارجی و جامعه بین المللی تحت قواعد و قوانینی روشن که به نفع متقابل باشد -ضرورت داریم. دنیا روز به روز کوچک میگردد

و ما نمیتوانیم از دنیا خود را جدا سازیم. اما ما در یک استراتیژی معیین قابل درک و ریال خواهان برگشت قوای رسمی خارجی جامعه جهانی به شمول امریکاء از کشور خویش ایم. ما خواهان ختم مداخله های بی جاء و غیر تعریف شده امریکا، روس، پاکستان(ای اس ای) القاعده و مراجع معیین استخباراتی ایرانی در کشور خویش ایم. برای تحقق این حالت باید کار عملی کرد. این به سخن غیر عملی نمیشود. اگر جنبش طالب به این تاکید دارد باید اول از خود آغاز کند.

اگر حکومت فعلی پاکستان خود را جدا ازسیاسیت دو رویه دولت دیروز پاکستان میداند لذا کار برای لغوه و فسخ (ای اس ای) معیار و اقدام عملی صداقت و عدم صداقت حکومت فعلی پاکستان شده میتواند. ضرورت این مسأله یک دلیل عمده دیگر نیز دارد و آن اینکه بخش از رهبران و کادر های موجود و مطرح در افغانستان به شمول جنبش طالبان و .... بناء بر شرایط - جیره خور (ای اس ای) بودند و حالا نمیتوانند مستقل و با اولویت دادن منافع افغانی عمل نمایند. و این حالت مشکل را ایجاد کرده.عین استدلال در موارد دیگر هم صدق میکند اما آنقدر داغ نبوده و کثرت ندارد.

برای تأمین وحدت ملی و تعیین رهبر و زعیم راه ها و قواعد وجود دارد و مامیتوانیم با به کار گیری حاکمیت قانون و اصول انسانی و اسلامی بر مشکلات به شمول تأمین عملی وحدت ملی کشور خویش نایل آمده و رهبری وطن خویش را در کشور خویش داشته باشیم من به این باورم. آسان ترین راه راه مراجعه به دین مقدس اسلام است که ۹۹ فیصد مردم ما به آن معتقد اند. کسیکه کلیمه شهادت گفت برادر مسلمان است. و کلید سخن است.

اگر جهان برای خدمت به امر صلح و ایجاد سیستم حاکمیت مردم ما بر افغانستان و مبارزه با اکسترمیزم آمده. و درین راستا خواهان کمک و مساعدت با ما و خویش است پیروزی ما حتمی است. و اگر قصد تصرف این کشور رادارد و تحت نام مبارزه به اکسترمیزم مبازره با اسلام منظور باشد باید با صراحت گفت که تاریخ ثابت ساخته و زمان ثابت خواهد ساخت که هیچ ابرقدرت خارجی در طول تارخی بر کشور و ملت ما به پیروزی نه رسیده و در جنگ بر علیه دومین دین دنیا پیروز نه خواهند شد. لذا آنهاییکه از پیروزی وعدم پیروزی در افغانستان صحبت میدارند باید مشخص سازند که منظور شان چیست؟

من به این باورم که بعد از به پیروزی رسیدن دموکراتها و آقای بارک اوباما در امریکا و سیاست های معیین اخیر بریطانیا کبیر آغاز خوب برای رفع تشنجات جهانی و همزیستی کلتورهای مختلف جهان بوجود آمده - لذا بر ماست تا دیر شده پروسه خیر را مساعد ت نمایم.

هموطنان گرامی این بود نکات چندی، مطالب و راه های حل که جهت تعمق و تفکر خدمت شما با تمام صداقت پیشکش نموده و به امید افغانستان آرام و آباد و صلح جهانی با هم مشترک کار نماییم.

# د پښتونستان د داعي په سر باندي داوباما ،زرداري اوکرزي معامله

دوکتورم.ع. روستار تره کی

**ځه چه می مخکی په کرات ویلی یو خل بیا تکراروم چه یو مزدور او د ملی ستراتژی بی برخی حکومت چه د بهرنیو قواوو سره د یو نړیوال تړون په بنست باندی تړلی نه وی ، نه یوازی د افغانستان او افغانانو د ګټو نه دفاع کولی نشی بلکه دا امکان شته چه د هیواد شته والی هم تر ګواښ لاندی را شی .**

**په وروستیو ورځو کی د افغانستان د ملی ګټو په خلاف هلی ځلی په قبایلی سیمو کی د پاکستان د چارواکو د کنترول په غزولو پیل شو ي .**

**) د ۱۹۰۱ م د قانون** Federally Administred Triba Area - FATA - **قبایلی سیمی**

Frontier Crime Regulation(

**په بنست باندی د یو فدرال نظام په چوکات کی خود مختار ( اتونوم ) وپیژندل شول . پاکستان د خپل تآسیس نه وروسته ( ۱۹۴۷ م ) نوموړی خود مختاری په رسمیت وپیژانده .**

**د ۱۹۰۱ قانون له مخی انګریزان په سیمه کی د قبایلی جنګیالیو څخه د حق العبور د پیسی په بدل د مواصلاتو لوژستیکی کرښی د استفادی امتیاز یی تر لاسه کړل . پرته د نوموړی محدودیت نه ، په سیمه کی میشته ولسونه د یو خود مختار نظام په چوکات کی د خپل حقوقی او مدنی چارو په تنظیم کی بشپړه خپلواکی درلوده .**

**په قبایلی سیمو کی پاکستان فوج ته د اوسنی بریدونو له کبله چه د سلګونو تنو په وژلو او اتکل یو ملیون کسانو د کدی**

کولو لامل وگرځید ، د اوباما او کلنټون له طرفه شاباسی وویل شو . کرزی خو د ۷ کلونو راهیسی همیشه پاکستان فوج تشویقاوه چه قبایلی سیمی تر بمباریو لاندی ونیسی ، خپل ولکه ورباندی ټینګه کړی او په واقعیت کی د قبایلو دودیزه تاریخی خپلواکی ختمه کړی.

په افغانستان کی اشغالگر غواکونه باید په یو واقعیت باندی ځان پوه کړی . پدی معنی

چه : نړیوال نظامی ائتلاف دا پیاوړتیا لری چه په سیمه کی د خپلو ګټو د تآمین په مقصد نړیوال قوانین تر پښنو لاندی کړی . د دیموکراسی او د بشر د حقونونه د سیاست په دګر کی دسیاسی افزار په توګه کار واخلی . په سیمه کی د یو ځواکمن کام په وړاندی دښمنی دریز ونیسی . د جګړی اور تر ابده پوری بل وساتی . په جنګی جنایاتو لاس پوری کړی . اما هیڅکله د جګړی له لاری خپل موخی ته رسیدلی نشی .

افغانان دیته چمتو دی چه د بهرنیو قواوو سره د خپلو ملی ګټو په ساتلو ، د نړیوال قوانینو په مراعاتولو او د ملګرو ملتونو د منشور په نظر کی نیولو سره معامله وکړی او زبر دستی او جګړه د استعمار تاریخ کندی ته وسپاری . اما هیڅکله زور زیاتی ته نه تسلیمیږی .

راځو خپل اصلی مطلب ته :

پاکستان د مذهب په بنسټ باندی جوړ شویدی . له یوی خوآ د اسلامی افراطیت او اعتدالی اسلام تر منځ کرښه هم په عقیدوی لحاظ او هم په جغرافیایی لحاظ معلومه نده . که نوموړی کرښه څرګند هم وی ، بنسټ پالنی جذبات ( د هغه تعبیر په چوکاټ کی چه لویدیز وال لری ) په قبایلی سیمو کی محدود نه پاتی کیږی . په ټول پاکستان کی آن د پاکستان د باندی ژوری ریښنی لری . که فرضاً د پاکستان د ننه پاتی هم شی د هغه په وړاندی جګړه د حل لاره نده . باید هلته په چټکی اقتصادی او ټولنیز پروګرامونه پلی شی .کوم چه په دغه برخه کی پاکستانی چارواکی وړتیا نلری ، باید د سیمی اداره ملګرو ملتونو ته وسپارل شی .

په قبایلی سیموکی د اوسنی جګړ ی نه مثلث ارخونه ( پاکستان ، افغانستان او نړیوال نظامی ائتلاف ) هریوه ځانګړی غوښتنی لری :

ــ پاکستانی فوج او په ځانګړی توګه د پاکستان په اداره کی پنجابیان د ۶۰ کلونو راهیسی په

قبایلی سیمو کی اسلامیستان د ملی ګرآ ګوندونو په وړاندی استعمال کړی دی .

همدا اوس په سیمه کی اسلامیستان نه یوازی د رادیکالو اسلامی ارزښتونو په خاطر بلکه ورسره د دودیزی تاریخی خپلواکی د ساتلو په مقصد جنګیږی . مقاومت مذهبی او ملی بنه لری . دغه موقع چه باید د مقاومت په ماتولو سره سیمه د پاکستان تر کنترول لاندی راوستل شی ، د کابل حکومت ، امریکائیان او انګریزان ، پاکستان ته ور په برخه کړل . خو داسی معلومیږی چه پاکستان د یو لوی پرادوکس سره مخ دی : که اسلامی ـ ملی مقاومت مات شی ، د پاکستان جنګی ولسی پوتانسیل د هند او افغانستان په وړاندی په قبایلی سیمه کی چه د اهمیت وړ ستراتژیک موقعیت لری کمزوری کیږی .

که مقاومت حذف نشی د لویدیز په ادعا سیاسی اسلام پراختیآ مومی او د نړی امنیت تر ګواښ لاندی راځی ؟؟؟ . او پاکستان په ۵ راتلونکی کلونو کی د امریکا د ۷ ملیارد دالرو د مرستی نه بی برخی کیږی .

هو ! دالر د جګړی او وینی په بدل ...

ــ د کابل حکومت په قبایلی سیمو کی د جګړی په اړوند خپلواک ملی ستراتیژی نلری او په بشپړه توګه د نړیوال نظامی ائتلاف تر اغیز لاندی دی . د دیورند کرښه او د پښتونستان پروبلم کابل حکومت ته د یوی ملی داعیی په بنه نه مطرح کیږی .

کرزی په د اوباما او زرداری سره د خپل وروستی لیدنه کتنه په ترڅ کی په بیره یوازی په قبایلی سیمو کی د بمباریو غوښتنه مطرح کړ. په سیمه کی دپاکستان د فوج د حضور موده ، د قبایلی سیمی د اتونومی ساتنه ، د جنګی عملیاتو په بهیر کی د ملکی خلکو مصئونیت ، د یو ملیون کدوال ستونزه ( د ملګرو ملتونو په قول په ۲۱ پیړی کی بی ساری بشری ناورین ) د مثلث اړخونو له خوآ د یو تړون په چوکاټ کی ځای په ځای نشو .

ــ نړیوال نظامی ائتلاف ځواکونه اوس مهال د پاکستان د دولت سیاسی ، اقتصادی او ځمکنی بشپړتیا د ټینګیدو په دریز کی قرار لری . تر څو چه پاکستانی چارواکو خپله ولکه په هغه سیمه کی ټینګ کړی چه د لویدیز په حساب د سیاسی اسلام جذبات په کی پیاوړی دی .

اما واقعیت په بل ځای کی دی : نړیوال نظامی ائتلاف فکر کوی چه تر هغه وختنه پوری چه د پښتون قام چه په سیمه کی تل د یرغلګرو په وړاندی مزاحم واقع شویدی

مقاومت او جنګی پوتانسیل مات نشی په افغانستان او سیمه کی د خپل ژیوپولتیک پلانونو په پلی کولو کی پاتی راځی . نوموړی پلانونه باید د جګړی له لاری عملی شی او پاکستان په جګړه کی ونده ولری . د نړی حقوقی نظام چه په جګړه باندی محدودیت ایجادوی باید د پامه وغورزول شی .

په لند مهاله کی په قبایلی سیمو کی د مقاومت ځپل چه شآ ته یی نړیوال نظامی ائتلاف ولاړ دی د افغانستان د ننه یوازی یو هدف تعقیبوی : د انتخاباتو ( ؟؟؟ ) په مقصد زمینه برابرول . د نظامی حضور او جګړی له لاری د په اصطلاح د انتخاباتو نه رازیږیدل شوی مزدور حکومت ساتل .

په اوږد مهاله کی د ژنوساید پروګرام د دیورند هغی خوآ د پښتونخوآ سیمی په غزولو کی او د پاکستان د فعال رول په تعینولو کی نوی پړاو ته ورننوزی :

په سوات کی نظامی عملیات د هغی عام وژنی یوه برخه ده چه د ۷ کلونو راهیسی په ترڅ کی یی افغانی ( پښتانه ) ملکی وګړیو په نښه کیږی . د می په ۷ نیته د « بونیر » نه راغلی یوتن کدوال ( بوختی زید ) د فرانسوی اخبار ( لو موند ) راپورتر ته وویل : « زموږ په کاروان کی ۱۰۰ تنه وو . په سر خلاصو موترانو کی ښځینه سپرلیو د دی د پاره چه د کاروان « ملکی محموله » په هوآ کی د ګزمی چورلکو ته وښیی خپلی بورقی لری کړی وو . خو سره له دی د هوایی ګوزارونو تر برید لاندی راغلو . ۷ تنه مړ او ۲۷ تنه زخمیان شول . د مړو په جمله کی زموږ د کورنی ۴ غړی شامل وو .

( لوماند انترنتی سایت . د می ۱۱ ) .

مثلث هیوادونه په ناسم لار روان دی . جګړه په ۸ کاله کی د سیاسی اسلام د پراختیا او د مذهبی عقیدی د رادیکالیزیشن لامل ګرځیدلی ده . د وسلی او جګړی په زور ساتل شوی حکومت خیل باور د خلکو په منځ کی له لاسه ورکړی دی .

د جګړی په وسیله د ولسونو د وژنی او د پښتونخوآ د داعیی په سر باندی د یو دول معاملی په ځای باید زیاتره فشار د پاکستان په چاروآکو کی په دی مقصد چه د مذهب نه د خپل بهرنی سیاست د یو افزار په توګه کار وانخلی ، واچول شی .

د هغه په موازاتو کی باید د پښتونخوآ د سیمه ایز انتخابی حکومت دټینګیدو په مقصد او د ملی ګرآ اسلامی ګوندونو د پیاوړتیا په موخه یو پلان جوړ شی . د نوموړی پلان په چوکاټ کی کولتوری ،

**تولنیزی ، اقتصادی او مالی مرستی د ملگرو ملتونو له لاری په نیغه محلی حکومت ته وسپارل شی . د پاکستان فوج باید د سیمی نه ووزی او امنیت ملگرو ملتونو قطعاتو یا هغه ملیشیاوته وسپارل شی چه د محلی حکومت او پاکستانی چارواکو له خوا جوړیږی .**

# دایران دولت اساسی تشکیلاتو اودندو ته لنډه کتنه

پوهنمل حاجي محمد

د روان ۲۰۰۹ کال دجون میاشتی د اولسمشری تر لسمي دوری ټولټانو ورسته چی پایلي یی داوسني جمهور رئیس محمود احمدی نژاد په گټه اعلان شوی , دمخالفو ( اپوزیسیون ) کاندیدانو دپلویانو لخوا اعتراضی لاریونونه پیل او په تاوتریخوالي واوښتل . دلاریون کوونکو او امنیتي ټولگیو تر منځ په شخړو کی تر اوسه پوری نژدی شل تنه وژل شوی , په لسگونه ټپیان او په سلگونه زندان ته وغورځول شول . دی کار په نړیوالو رسنیو کی داعتراضه ډک غبرگونونه رامنځته کړل .

ددی لنډی لیکني نه زما موخه دانتخاباتو پررنوالي یا نارنوالي اویاهم دپایلوپر کره والي یاناکره والي باندی درڼا اچونه او دنظر څرگندونه نده . ډیری لوستونکي وطنوال چی پدی اړه رسنی تعقیبوی , دایران دولت په پیچلو داخلي اساسی تشکیلاتو او دواکمنو څانگو په دندو او ځانگړتیاوو باندی که څه هم زموږ سره داوږده سرحد لرونکی گاونډی دی , پوره بلد ندی . پدی خاطر غواړم لاندی لنډ معلومات می دگرانو لوستونکوسره شیریک کړم :

کله چی په افغانستان کی په ۱۳۷۵ کال دثور په میاشت دپاریدلو افسرانو پلاس دولتي واکمنی بدلون وموند , په ایران کی هم چی له پخوا لا اوبه گرمی وی , ددی اوښتون تر تاثیر لاندی خلکو دشاهی سیکولاردولت پرضد په اغتشاش او شخړو لاس پوری او شاه یی له وطنه و وتلو ته اړ ایست . دافغانستان نه خلاف دلته دچارو واک په فرانسه کی میشت دایت الله روح الله خمینی چی یو بنسټپال روحانی سړی وو او دشاه تر وتلو وروسته هیوادته راوستل شو , پلاس ورغی او دایران اسلامی دولت بنسټ یی کښیښود . دا دولت اوس دیوی مذهبی سیاسی اداری لخوا چی ځانته خاص تشکیلات لری , اداره کیږی .

دایران داداری شکل او اړوندی څانگی دنورو اسلامی دولتونو سره هم ډیر توپیر لری . ددغو اداره کوونکو څانگو جوړښت اودندو ته په لاندی کرښو کی پام اړوم :

۱ ـ جمهور رئیس :

دامقام د واک له مخی دویمه کړی گڼل کیږی . جمهور رئیس دڅلورو کالو دپاره د ټولټاکنو دلاری انتخاب او داساسی قانون سره سم یوتن یوازی دوی دوری پر دی چوکی باندی ټاکل کیدلای شی . دی داجرائیه قوی مشر او داساسی قانون تفسیر هم دده دنده ده چی دکوم بل هیواد په هکله دجمهور رئیس په دندو کی ددغه کار صلاحیت زما تر سترگو شوی ندی او راته دحیرانتیاوړ ښکاری . دایران اسلامی دولت جمهور رئیس په عمل کی د روحانیت لوړ واک دتمثل یو ځانگړی ارگان جوړوی . د اولسمشری په ټولټاکنو کی کاندیدان هغه وخت په سیالیو د دریدلو حق تر لاسه کوی چی د ( شورای نگهبان ) لخوایی وړتیا تائید شی او لدی نه پرته هیڅوک ځان کاندید کولای نشی .

۲ ـ حکومت :

دلته هم حکومت دنورو هیوادونو پشان د دولت داجرائیو چارو اساسی کړی ده چی غړی یی دجمهور رئیس لخوا نومول کیږی او دپارلمان څخه دباور ترلاسه کولو وروسته په کار گمارل کیږی .

۳ ـ پارلمان :

دایران د پارلمان ( مجلس ) ټول غړی ۲۹۰ تنه دی او دخلگو لخوا دمستقیمو رایو ورکولو له مخی د څلورو کالو پاره ټاکل کیږی .پارلمان دتقنینی ارگان په توگه دقوانینو د وړاندیز او تصویب دنده لری . ددی ارگان لخوا ټول تصویب شوی قوانین هغه وخت نافذ گڼل کیږی چی دشورای نگهبان لخوا دتائید وړ وگرځی . دپارلمان په ټاکنو کی دکاندیدانو وړتیا هم باید دشورای نگهبان لخوا تائید او دستر روحانی مشر لخوا ومنل شی . پارلمان کولای شی خپل غړی او جمهور رئیس تر عدلي تعقیب لاندی راولي .

٤ ـ شورای خبره گان ( دپوهانو جرگه ) :

ددی شورا له ډیرو سترو دندو څخه یوه هم دهیواد د ستر روحانی مشر ټاکل , له دندی لیری کول او دهغه پراجراآو باندی څارنه ده . دپوهانو جرگه ۸٦ غړی لری چی دخلگو لخوا په مستقیمو ټاکنو کی د۸ کالو دپاره غوره کیږی . یوازی مذهبی روحانیون کولای شی دی شورا ته ځانونه کاندید او دشورای نگهبان له تائید وروسته سیالیو ته و دریږی . ددی شورا تر ټولو مهم غړی داگړی ښاغلی اکبر هاشمی رفسنجانی دی چی په روانوشخړو کی داپوزیسیون ملاتړ کوی .

٥ ـ شورای نگهبان ( دڅارنی جرگه ) :

داجرگه دهیواد ترټولو اغیزمن ارگان دی چی ټولټال ۱۲ غړي لری . دغړو نیمه برخه ( ٦ تنه ) یی د دینی علومو پوهان دی چی دهیواد ستر روحانی مشر یی په گوته کوی اوپاته ٦ تنه یی دحقوقو پوهان چی دقضا لخوا ټاکل کیږی . دشورا ټول غړی دپارلمان څخه دباور رایی اخیستنی وروسته وظیفوی واک پلاس راوړی او په کارپیل کی . دنومړی شورا دواک موده شپږ کاله او بنسټیزه دنده یی پر ټولوانتخاباتو باندی څارنه ده . داشورا همدارنگه هغه قوانین منظور او تفسیروی چی دپارلمان لخوا تصویب شوی وی .

٦ ـ دهیوادستر روحانی مشر :

لکه څنگه چی یاده شوه دا شخص دپوهانو دجرگی لخوا په دنده گمارل کیږی . دستر روحانی مشراصلی دندی د قضایی قوی د رئیس ټاکل , دپوهانو دجرگی دنیمی برخی غړو نومول , د وسلوالو ځواکونو دقوماندانانو ټاکل , د دولتی راډیو او تلویزیون د رئیس ټاکل دی , دامنیت شورا او دمنځگړیتوب شورا گمارل دی . لدی نه پرته دجمعی دلمانځه امامت کول او ترټاکنو وروسته د جمهور رئیس دصلاحیت تائیدول هم ددغه روحانی مشر په دندو کی راځی . دایران دولت اوسنی ستر روحانی مشر ایت الله علی خامنه ای دی چی دژوندترپایه پر دغی دندی باندی گمارل شوی دی . په روانو شخړو کی نوموړی دمحموداحمدی نژاد ملاتړ کوی چی داپوزیسیون په وینا یی په ټولټاکنو کی د درغلیو له مخی درایو ډیره برخه دځان کړی ده .

دایران دولت چی دافغانانو یو نامهربان گاونډی دی اوتل یی دهغوی په بده ورځ دخوښی اتنونه کړی دی , دخپل اداری

واک په پیچلی سیستم کی اوس ورنه لاره ورکه او یوازی قهریه قوه ده چی دشخړو برخلیک به وټاکی .

## فلسفي بحث ،

## دارزوني لپاره

# روح-

# ظهور،بدلون او

# پا یښت ئي

ډاکټر حرکت

**وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنۡ أَمۡرِ رَبِّي وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ إِلَّا قَلِيلٗا** (۸۵)

ترجمه : او پوښتنه کوي له تانه له روح څخه ،ووایه چي له امره د رب ځما دي او نده درکړي شوي تاسي ته له علم څخه مگر لږه . که چیري ددي مبارک آیت معنا او تفسیر ته ځیر شواو همداسي هغه تذکر چي د قرآنکریم په نورو آیتونو کي د روح د پیدا ایښت او ظهور په باره کي شویدي ، سره ددي چي د روح عام هر اړخیز ماهیت افاده کوي ، خو په حقیقت کي ددغه مسئلي په تولوتاریکواړخونواوکنجونو رڼا اچوي او هیڅ ډول شک او شبهي ته تاریکه ساحه نه پاتي کیږي. د خداي په کلام کي په ځانگړي او مشخص ډول یوائي د انساني روح د پیدا ایښت په باره کي دیوي پروسي په حیث بحث شویدي . د پروسي د مختلفو اړخونو ،او په معینه مرحله کي یعني دځلورمي میاشتي په پوره کیدوسره د انسان مخ په تکامل وجود کي د روح دابتدائي ماهیوي مفهوم په کچه دلومړي تحرک رامنځته کیدل،په شپږمه میاشت د قوام او پایښت مرحلي ته رسیدل او په دوه نیمو کلونو کي پر ځان ابتدائي اتکاء پیداکول او بعدي پروسه په څرگند ډول ددغه حقیقت مبین او څرگندوي ده چي دهر موجود او خلقت د پیدا ایښت او بقاءد پروسي په مختلفو مراحلو کي د ظهور ،تکامل او انحطاط په منحني لار وهي او په ځانگړي ټاکلي وجدي حالت او وضعیت کي قرار لري. د قرآنکریم په تفسیر کي دغه مفهوم په پوره دقت سره دا ډول افاده شویدي : «دروح علم او شعور او لوړ صفات په تدریج سره په کمال رسیږي او په ارواحو کي د کمال دحصول په اعتباربي حده تفاوت او دمراتبو فرق وي تر دي چي د الله تعالي له تربیته یو روح داسي لوړ او اعلي مقام ته رسیږي چي نور ارواح هغه ته له سره نشي رسیدي... » . په پورتني عبارت کي چي یوائي انساني روح ته پکي اشاره شوي ، په حقیقت کي دانساني روح ذهني ،جسمي او ټولنیز و سترو تفاوتونو ته گوته نیول شویده او دا په گوته کوي چي روح کوم مجرد مفهوم ندي ، نه یوائي عقل ، پوهه او شعور افاده کوي ،لکه چي ځیني پوهان روح ، جوهر ، عقل ، شعور او دغه ډول نورو مسایلو ته برابر ارزش قایل دي .هگل عقیده لري چي بشري تاریخ د مطلق عقل د پلوشو مظهر دي .محمد نادر ایوبي « کندهاري » پخپل کتاب ( فلسفه )کي دهگل نظر په لاندي ډول لیکي : «د هگل په عقیده په عالم کي یو جهاني او مطلق عقل چي پوهه ئي د افرادو تر خیال او تصور لوړه ده چي دبشر په تاریخ کي څرگند شویدي .کله چي یوه ټولنه بله ټولنه له منځه وړي او بري حاصلوي ،همدغه جهاني مطلق عقل چي دمخه دمغلوبي ټولني سره وو و دوهمي غالبي ټولني ته درومي،دغه جهاني مطلق عقل د عالم دنظام او پالني محرکه قوه ده چي د افرادو په یوه خپلواکه ټولنه کي بشپړیږي ،دي وائي چي په ټولنه کي هم هغه حرکت او پرمختگ چي په کایناتو کي موجود دي سته ،شتمني او مالونه هم دانسان دتکامل د پلوشو نتیجه ده او قانون هم د جهاني مطلق عقل د اغیزو څخه د خپلواکو افرادوپه ټولنه کي بشپړیږي او هر فردخپل فردي عقل بایددهغه جهاني مطلق عقل سره عیار کړي او کوم څوک چي محض د خپل هوس تابع وي په حقیقت کي خپلواک ندي هر کله چي فرد دټولني سره (یو)سي خپلواکي مومي ،تاریخي سیر د کاملو دولتوظهور څرگندوي . . . » « ۶۰۶ مخ »همداسي په « تاریخ فلسفهٔ شرق وغرب »چي د سروپالي راداکریشنان په مشرۍ د پوهانود یوي ډلي لخوا تالیف او جواد یوسفیان په فارسي ژبه ژباړلي د هگل د روح د فلسفي تر عنوان لاندي لیکي: «که منطق د هگل دنظام بنیاد وگڼو(حال داچي منطق د هیڅ ډول نظام بنیاد نشي جوړیدلي ) ،دروح فلسفه ددغه فلسفي بنیاد افق گڼلي شو » ( دوهم جلد ۲۷۴ مخ ) زه دهگل په پور تني نظر او عقیده او دروح په فلسفه پدي لیکنه کي تبصره نه کوم ،اودغه تبصره هغه فرصت ته ساتم چي که ژوند ماته راکړ او په ټولیزه توگه مي د روح په باره کي د پوهانو په نظریاتو

څه لیکل غوښتل ، پرېږده چې د هګل په پورتني نظر محترم لوستونکي پخپله قضاوت وکړي چې څومره منطقي تسلسل او قانونمند منطق په کې وجود لري ؟ زما په عقیده هر څوک که د روح مفهوم د عقل ، شعور او یا دهګل په څیر دټولني دتاریخ سره پرتله کوي او په یوه سترګه ورته ګوري ،روح ته ډېر کم ارزش قایل شویدي .ځکه چې روح کلي مفهوم دي او دانسان د وجود دټولو اعضاوو او اجزاوو د کلي فعالیت وجدي وضعیت او دیالکتیک پوري اړه لري ،لکن ځانګړي پدیدي لکه احساس ،عقل ،شعور ،تحرک او نور، سره ددي چې د نورو اعضاوو نسبي او متداخل رول پکي بي تاثیره ندي ،خو پریکنده رول پکي په مشخص ډول یوله اعضاوو لکه مغز په عقل او شعور ،حسي اعضاء په احساس او داسي نور په نورو پدیدو کي لوبوي او ددغه ځانګړو اعضاوو د قسمي یا کلي ضرر په صورت کي اړونده پدیدي هم متضرري کیږي . همداسي که څوک جهاني روح او یا دیته ورته مفاهیم دخداي د لوي ذات او حتا د یوه کوچني مادي واحد د سبستانسیون ( ماهیت ) سره په یوه تله تلي یا یو شان ارزش قایلیږي، یا په ډېره سادګۍ دغه ډول نامتناسب مقیاسونه ردوبدل کوي ، یا هغي ته ځانګړي ماهیت او بعد قائیلیږي یعني د مادي واحد دجمعي هراړخیز دیالکتیکي وجدي حالت یوائي په یوه اړخ ډډه لګوي او یا دتناسخ دتصوري او تخیلي موهومي تیورۍ له مخي له یوه خلقت اوحتا له یوي ټولني څخه بلي ټولني ته دجهاني روح په لیږدوني باور کو ي، ما لپاره دمنلو وړنه بریښي . شک


نشته چې روح د کوچنۍ ذرې څخه نیولې تر کلي مادي موجودیت او همداسي دزمان او مکان د ابعادو په عمودیت او افقیت کي همغسي چې روح همیشه نسبي مفعوم لري ، په هره لحظه کي مشخص او ځانګړي مفهوم هم دي. دغه ځانګړتیاوي نه یوائي د ځانګړي نوعي بلکه د ټولو خلقتونو په زماني اومکاني ابعادو کي هیڅکله دمقایسي وړ ندي . دمخه مونږ پدي موضوعاتو پوره بحث کړي چې په هر ه پدیده ، خلقت او هر مادي واحد کي ټولي پروسي ،حرکتونه او قانونمندۍ همزمان او هم مکان په متداخل ډول پر مخ ځي او دخپل مادي واحد په کچه مُحصل وجدي حالت رامنځته کوي او روح په هره کتګوري او په هر معنوي موقف کي چي اوسي دډېر ابتدائي حالت څخه نیولي تر خورا عالي مغلق وضعیت پوري ددغه وجدي حالت ددیالکتیکي وضعیت د محصلي په توګه ظهور کوي ،نه دکوم ځانګړي جز د وجدي حالت دديالکتیکي وضعیت د نماینده په حیث . په همدي سبب مونږ په هیڅ دلیل نه شو کولي چي انساني روح دهغه د عقل اویا جهاني روح د خداي د علم او ذات سره پرتله او یا په شرک ومنو .ددي موضوع دپوهاوي په خاطر زه غواړم یو ساده تخنیکي مثال راوړم. په تخنیکي جوړښتونو کي محرکه قوه او یا په اصطلاح محرک روح ،چي دټاکلي هدف د ترلاسه کولو په خاطر باید ایجاد شي ، دمغلقو میخانیزمونو یو کامپلکس سیستم او یا سیستمونه ایجادیږي. دمثال په ډول له یوه ځایه څخه تر بل ځاي پوري د مسافرینو او یا د ټاکلي وزن دلیږدولو په خاطر الوتکي ته ضرورت پیښیږي .الوتکه پخپله مدرن او

ډېر مغلق تخنیکي کامپلکس او دهغي د محرکي قوي د ایجاد لپاره انجن یو بل مغلق سیستم ګڼلي شو . په انجن کي د کشش د قوي د ایجاد په خاطر مختلف تخنیکي سیستمونه او قسمتونه فعالیت کوي او هر یو خپل ټاکلي رو ل لري خود کشش دقوي په ایجاد کي مرکزي او اساسي رول توربین او آیرودینامیکي مجراپوري اړه پیداکوي چي پرته له هغي اصلاً د کشش قوه نه ایجادیږي .ایا مونږ کولي شو دانجن د کشش قوه د هغي د مادي ذاتي موجودیت په حیث ومنو آو یا ئي ورسره پرتله کړو ؟او یا ،ایا ممکنه ده دانجن دکشش قوه دیوه قسمت او یا یوائي دیوه میکانیزم مولود وګڼو ؟ دانسان په وجود کي د روح موقف هم همداسي دي . د حرکت دانتقال دوسیلي اویاپه هر مادي واحدکي دوجدي حالت دعلت په موخه او نوم کوم مشخص میکانیزم او موجود وجود نلري ،او نه مشخصي ځانګړي وسیلي او حتا کومي برخي ته د محرکي قوي د انګیزي او علت په توګه ګوته نیول کیدي شي ، بلکه دهغي ترشا ځانګړي میکانیزمونه په مشخصو فعالیتونو سره وجود لري چي په کل کي ددغه ځانګړوفعالیتونو قانونمندارګانیک انتګریشن اودیفرنسیشن د معین کمیت او کیفیت په تناسب معین وجدي حالت ایجادوي. په همدي ډول د خداي دمقضي ارادي له مخي انساني او یا دبل هر خلقت روح هم ،دساده څخه تر مغلقه پوري ،د نظام د قانونمندۍ په بنیاد په معینو زماني او مکاني ابعادو او د کمیت اوکیفیت په ټاکلي منځپانګه سره په ټاکلي او مشخص ماهیت او وضعیت سره دظهور ،

بقاء ،تکامل او انحطاط په مسیر لار وهي او تر څو چي ټاکلي وجدي حالت او مشخصه منځپانګه وجود ونلري روح هیڅکله د خپل سفر په لارکي په هیڅ یو ددغه وضعیتونو کي واقع کیدلي او برقراریدلي نشي. په همدي علت دانسان دروح دظهور په خاطر څلور میاشتیني او داستقرار او قوام په خاطر ئي لا اقل نور دوه میاشتیني زماني بعد ته ضرورت لیدل کیږي. دخداي په علم کي دروح مسًله ددي څخه هم ډیره مغلقه او دقیقه ده . د طب علم اټکل کوي چي د انسان وجود د لس تریلیونو ( 10 000 000 000 000) نه د زیاتو حجراتو څخه جوړ دي. دخداي دکلام په قول ، دمخه مونږ وویل چي روح یوه پرو سه ده ، یعني د قضاء او قدر دقانون له مخي په دیالکتیکي لحظوي تحول او تکامل کي قرار لري. د انسان دوجود دلس تریلیونوڅخه زیاتو حجراتوهره یوه حجره، په حقیقت کي ، ځانګړي مادي واحد جوړوي او دهري حجري د وجدي حالت څخه نیولي دبدن دمختلفو ارګانونواو اعضاوو انتګرالي او دیفرنسیالي موجودیت د روح او مادي کلي وجد کي ځانګړي رول لوبوي . په همدي علت ممکنه نده د څلورو میاشتو څخه دمخه، تر څو چي لازمه کمي او کیفي منځپانګه وجود ونلري ، دانساني روح ابتدائي او یا بعدي متکامل او انحطاطي مراحل نشي رامنځته کیدلي . دبلي خوا مونږ پوهیږو چي په هره لحظه کي دانسان د بدن د لس تریلیونو حجراتو څخه ډیر حجرات مري او دهغي څخه څه زیات یا کم نوي پیدا کیږي. تر څو چي د نوي حجراتو شمیر د مړو حجراتو د شمیر څخه زیات وي ، وجود تکامل کوي. کله

چي د مړو حجراتو شمیر د نوو حجراتو له شمیرڅخه زیات شي ،د ژوند منحني مخ په زوړ شي ،یعني انحطاط شروع شي. کله چي دانسان په وجود کي د یوي ذري په کچه بدلون پیښیږي ،د خداي د لوي علم په حافظه کي محفوظ او هیڅکله لا درکه نشي پاتي کیدلي او بي پله له منځه نه ځي او همداسي دهر کوچني تغیر په پیښیدو سره دبدن په وجدي حالت یا په بل عبارت د روح په وضعیت کي متناسب بدلون رامنځته کیږي. د بلي خوا د خداي په علم کي معما ، موهومي ،نامعین او متوالي حالتونه او وضعیتونه وجود نلري او نه خپل مخلوق د ناممکناتو او لا چارۍ سره مخامخ کول غواړي.د خداي د لوي علم له مخي بي شمیره پروسي ،قضي ،فورمولبندئ او افادي په متداخل ارګانیک انتګریشن او دیفرنسیشن کي د حل واحدځواب پیداکوي او هیڅکله د شک او تردد په څلورلاري او دوه لاري کي څوک نشي واقع کیدلي. دمخه هم ما په خپل ناقص آند او فکر د خداي دلوي علم خارق العاده سمبنت کچي ته داسي اشاره کړي وه چي : د انساني وجود په بیولوژیکي حجره کي ۲۳ جوړي ، یا په بل عبارت ۴۶ کروموزومه وجود لري . که چیري یو له دغه کروموزومونو څخه کم وزیات شي ،دانسان دوجود ارثي تسلسل شلیږي او انسان د مونوګلوئید په بڼه په جهان کي سترګي غړوي او معفیتي سیستم ئی هم پر ځاي نه پاتي کیږي. نن علم او تخنیک د « Embryology جنین پیژندني» په برخه کي دومره پرمخ تللي او لابراتواري څیړني په ډیره چټکۍ سره رواني دي چي د غیر متراقبه پیښو څخه پخپل وخت مخنیوي وکولي شی. نن په

امریکا ،اروپا او ځیني نورو هیوادونو کي په تجربي لحاظ ددغه ډول تربیه شووۀ څارویو غوښي خوړل کیږي . په ټولنیز لحاظ به دا خبره سمه او ګټوره وي ، خو که د شخصي مقاصدو لپاره وکارول شي نه جبرانیدونکي فاجعي به رامنځته کړي . په همدي خاطر د علمي پر مختګونو سره هم باید مسًولانه کړه وړه وشي او تل په باوري او خوندي مصًون موتي کي یواځي دخیر ښیګڼي ټولنیزو ارمانونو د پاللو او ترلاسه کولو په خاطر وساتل شي . کله چي امریکائي فضاء نورد N.Armstrong په ۲۱د جولاي د ۱۹۶۹م کال کي د Apolo_11 د



1.

قوماندان په حیث سپوږمۍ ته تللي وو د کونړ دیوه مشهور شخص د مړیني په مراسمو کي ډیر پوهان اومشهور دیني عالما راټول شوي وواو ددغه تګ په امکاناتو او عدم امکاناتو باندي ډیر تود بحث کیده . ځیني دیني عالمان چوپه خوله پاتي وو او د نورو خبرو ته ئي غوږ نیولي وو . لکن ځیني نورو سخت مخالفت کاوه .ماهم ددوئ خبرو ته غوږ نیولي وو . کله چي یوه دیني عالم په قطعي ډول مخالفت ښکاره کړ او د مقابل لوري په ځواب کي ئي وویل ، « که په رښتیاارم سټرانګ سپوږمۍ ته ختلي وي نو یو تور څادر دي د سپوږمۍ په مخ وغوړوي ،چي له مونږ څخه پټه شي بیا به ئي ومنم . زه چي د مولوي صاحب اړخ ته نژدي ناست ووم په ټیټ اواز مي ورته وویل چي استاده سپوږمۍ دومره

کوچنۍ نده چې په څادر کې پټه شی . که چیري دخداي (ج) او پیغمبر (ص )په قول کې سپوږمۍ ته ختل نا ممکن گڼل شوي وي ، ښه به داوي هغه آیت او حدیث شریف دلیل راوړئ . مولوي صاحب په ځواب کې وویل « ستازړه دي چې ځان کافر کړم او ووایم چې ختلي دي .په علمي مسایلو کي هره منطقي او قانونمنده وړاند وینه او خوشباوري ممکنه او منطقي هم گڼل کیږي خو یو اړخیزه مطلق مخالفت، موضعگیري ،تعصب او تنگنظرۍ ته په کې ځاي نه پاتي کیږي . نن دهغه ورځي څخه پوره ۴۰ کاله تیریږي چې آرم سټرانگ سپوږمۍ ته ختلي وو او د شمسي نظام نورو سیارو او زمونږ له شمسي نظام څخه وړاندي نورو ستورو ته سفرونه تقریباًپه ورځني معمول کار او چار اووختي دي .نو مولوي صاحب چې د خداي ( ج ) او پیغمبر ( ص ) دعلم او کلام د پوهي او تفسیر وارث گڼل کیده خو په حقیقت کي د هغې څخه بې خبره وو او دخپلي بیخبرۍ دپټولو په خاطر ئي دتعصب او حتا جهالت څخه هم کار اخیسته ، په حقیقت کي دخداي لوي علم ته ئي د خپلو سترگو دتنگو کسو څخه کتل او په خپله ناپوهۍ سره ئي ټول بشریت د خداي د لوي علم په هکله « العیاذ بالله »بې باوره کاوه او د خداي دذات او علم څخه د منکرانو دپاره ئي داعتراضونو او دروغجنو دلایلو خټه برابروله . کله چې خداي دا لوي جهان د خپل لوي علم له مخي قانونمند پیدا کړي دي ،کله چې خداي یوائې په انسان کي علمي ،منطقي ظرفیت او استعداد ایجاد ،علم ئي په ښځه او نر فرض او د همدغه علم له مخي ئي انسان د عالم خلف په حیث دجهان او ټولو خلقتونو په معرفت مکلف گرځولي او دغه ټول خلقتونه ئي دهغه لپاره پیداکړي او دهغه په خدمت کي ئي گمارلي ،کله چې اسلام دټولو ادیانو په نسبت خورا علمي او خورا منطقي دین گڼل شوي ، دبشریت په قاموس کي چیري دغه ډول حماقت ،جهالت ، ناروا دروغجني تنگنظرۍ ته ځاي پاتي کیدلي شي ؟ ډیر خلک او حتا پوهان داسي فکر کوي چې خداي ټولي دنیائي او اخروي چاري باالفعل او باالاراده پخپله سرته رسوي .زما په عقیده دا خبره سمه نده .که خداي خپلومخلوقاتو ته تیار خواړه رسولي ،څله به آدم (ع)او نور انسانان عالم الاسباب ته د عمل ډگر ته راوتلي ؟ د څه لپاره خداي انسان د علم څخه برخمن کړي ؟او دڅه لپاره ئي د خپل لوي ذات د خلیفه لقب ورکړیدي ؟ دا ډول نظر دقضاء او قدر دعام قانون سره سمون نلري او د خداي عدل اوانصاف د پوښتني لا ندي راولي . پدي صورت کي به ضرورت نه وو چې خداي داجهان قانونمند پیداکړي وي ، ځکه خداي په هر شکل چې وغواړي دخپل نظام داداري او کنترول دعهدي څخه وتلي شي او د انسان هر کوچني فعالیت به « العیاذ باالله » په خدائي کارونو کي مداخله گڼل کیدلي او انسان ته به هیڅکله د خداي دمقضي ارادي له مخي انساني مقدرات او اختیار نه وي ورکړي شوي او دا به « العیاذ باالله » هم دخدائي انصاف څخه لیري وي چې که بیا ئي هم انسان د جهان او ټولو خلقتونو په معرفت مکلف گرځولي وي ، ځکه چې انسان به بې له هغې هم ددغه کار له عهدي څخه نه وي وتلي .د بلي خوا د انسان لپاره دخداي دلوي ذات دلوي علم دسرمشق نمایش به څه ډول شوي واي ؟او یاڅه ډول به ئي په خپل ځان باور او لازم جرئت پیداکړي واي ؟ پدي صورت کي به د انسان دپیدایښت څخه هدف څه وو ؟ څه ډول به ئي ژوند کولي ؟او څه ډول به ئي د خپل عبودیت رسالت او مسؤلیت سر ته ر سو لي ؟ خو مونږ پوهیږو چې خداي الرحمن الرحیم ،عادل ، منصف او دډیري لوئي پیرزویني او لورییني لوي ذات دي او په ټولو مخلوقاتو او په ځانگړي توگه په انسان ئی ستري رواداري او پیرزویني لرلي. په حقیقت کي خداي انسان او ټول خلقتونه د قضاء او قدر دقانون له مخي مقدر او مقضي گرځولي دي .زما په عقیده که خداي ټولي چاري پخپله سرته رسولي ، د انسان لپاره د خدائي خلا فت ته نه څه ضرورت لیدل کیده او نه به ددي لپاره کوم امکان او وسیله موجوده وي چې انسان د خداي دعالم خلف په حیث د خداي دلوي علم څخه اگاهي پیداکړي. په حقیقت کي انسان او ټول خلقتونه د قضاء او قدر دقانون له مخي مقدر او مقضي گرځیدلي ، دا لوي جهان ئي په کل او جز کي قانونمند پیداکړي او دخپلي مقضي ارادي له مخي ئي د لوي جهان او حرکت متقابل ابدیت او موجودیت یو تر بله لازمي ابدي علت او معلول ، قایم باالذات او خلل ناپذیر گرځولي دي .ددي په عوض چې خداي د خپلو بنده گانو پرځاي ټولي چاري پخپله سرته ورسوي او یاخه خواړه ورته وویشي ،د پوهي او عمل استعداد ئي ورکړي ،هر چاته ئي پخپل نژدي چاپیریال کي د عدالت ،انصاف او هر اړخیزي رواداري له مخي پرته له خوړو د هر ډول مصروفیت

،مشغوليت او علمي څېړنو په خاطر بې شميره امکانات او بي حسابه زيرمي موجودي کړي او انسان او نور مخلوقات هر يو ئي دخپلو امکاناتو په تناسب مقدر او مکلف گرځولي دي .ددي جهان ټول خلقتونه ، دخورا کوچني څخه تر خورا لوي او دخورا ساده څخه تر خورا مغلق پوري خپل خپل مقدرات او د هغي په تناسب مختلف هر اړخيز امکانات او اختيارات لري چي د خداي د مقضي ارادي له مخي د خپل ښه او بد سر نوشت ،نيک او بد روح او دنيائي او اُخروي ځانګړو او ټولنيزو سرنوشت سازو قضاياوو او مسايلو کي صلاحيت ورکړي شوي او پري مکلف گرځيدلي دي .يعني خداي هر خلقت دقانونمند نظام په شکل مقدر او خود مختاره پيداکړي دي . نو ځکه روح هم دامري خلقت دمقدراتو په تناسب دخپل ظهور ، تکامل اوانحطاط په پروسه د خپل نيک او بد سر نوشت او د خپل پيدايښت ،بقاء ،تکامل او حتا د انحطاط اختيار پخپل واک کي لري . يعني چي د روح سرنوشت هم دخداي د لوي علم او د هغي د عامو قوانينو له مخي ، مخکي له مخکي نه تعينيږي ،بلکه د ورکړي شوي اختيار او مقدراتو په تناسب ، کولي شي هغه په خپله خوښه تعين کړي. روح د امري خلقت په حيث با الذات تغير پذير او فنا پذير دي او دخپل ظهور ،تکامل او انحطاط په پروسه کي منحيث دهر قانونمند حرکت او قانونمندی په شکل د مادي د ابديت په بناء ، ابدي شهودي قانونمند حقيقت جوړوي او دزمان او مکان په مختلفو مقاطعو او ابعادو کي دمادي عامو قوانينو له مخي نه يوائحي د روح او وجدي حالت په کل کي بلکه د هغي پوري داړونده اجزاوؤ حالت او بدلون قابل د محاسبي او قانونمنده افاده ئي هر وخت ممکنه ده .په همدي علت د خداي په کلام کي ويل شوي چي د حساب او کتاب په موقع کي دانسان دبدن ټول اعضاء په جداګانه ډول پخپله په انسان د نيکو او بدو اعمالو شاهدي ورکوي .که چيري روح مجرد مفهوم او په يوحال پيدا او باقي پاتي موجود وي نو د ځانګړو اعضاوو د ځانګړي شاهدی مسًله نه شوه مطرح کيدلي او يوائحي په کل کي به د روح د عام مفهوم او موجود په حيث د شاهدی ذکر شوي واي . د خداي په لوي جهان کي دخداي د لوي علم له مخي مرګ نسبي او ژوند ابدي مفهوم لري . هر مرګ دنوي ژوند اغاز او هر ژوند همزمان دنوي ژوند او مرګ په لور حرکت کوي او په متوازن ، متعادل او متناسب ډول دخدائي نظام دبقاء ساتندوي او همدغه دخداي د لوي نظام دبقاء او ابديت لوي او انکار نه منونکي دليل دي. د خدائی نظام قانونمندي ساتني او حفاظت ته خدائي طريقت ،شريعت او عبادت ويل کيږي او دهمدغه نظام څخه دسالمي ګټي په اخيستني او حفاظت پوري د بشريت او ټولو مخلوقاتو ټولي خوشبختئ هم تړلي دي . نو ځکه د خدائي نظام ساتنه اومعرفت اودخداي د علم تحصيل د بشر لپاره د خداي د بي ساري نعمتونو څخه د اعظمي منطقي ګټي اخيستني په مفهوم اومعنا ده، خدائي شريعت ددغه اعظمي استفادي لپاره يوائينی لار او خدائی رښتيني عبوديت ددغه ګټي اخيستني خورا احسنه امکانات او طريقه ګڼل کيږي . مهمه خبره داده چي دغه تسلسل له پيله تر پاي پوري ټول دخداي دلوي علم او د هغه ذات د لوئي رواداری او پيرزويني په محور څرخي . د خداي په کلام کي د انساني روح دپيدايښت په پروسه کي زماني قيديت ته اشاره شويده . زمان نسبي مفهوم دي اودهر مادي واحد په تناسب مختلف نسبي مفاهيم افاده کوي .د بلي خوا پخپله قيودات هم کيدلي شي دشرايطو په تغير سره تغير وکړي . روح مجرد مفهوم ندي او نبايد هغه مجرده پديده وګڼل شي . ځيني پوهان د روح د زماني او مکاني ابعادو څخه منکر دي يعني هغوئ روح عام مفهوم ګڼي چي هيڅکله خارجي وجود نلري او چي څرنګه دغه ټول فعاليتونه سرته رسوي، ځکه خو هيڅوک نشي پوهيدلي او بايد هم پوه نشي. ځيني نور روح ته هر ډول زماني او مکاني ابعاد او تناسخ قايل دي . هغوئ پدي عقيده هم دي چي د بد روح دتناسخ پروسه کي د بدي ارواح په حيث په ځيني کثيفو حيواناتو کي تر هغي دوام کوي ، تر څو چي ئی د نفس تزکيه وشي. خو زما په عقيده روح په هر زماني او مکاني بعد کي مشخص او ځانګړي دي او يوائحي په مشخص خلقت او پديدي پوري اړه لري اود اسلام دمقدس دين حکم هم همداسي دي ، او په هره پديده او خلقت کي دهغي د اجزاوؤ د وجدي حالتونو د قواوؤ دويکتورونو محصله جوړوي .خو دغه محصله کومه ساده ميخانيکي تجمع او انتګريشن ندي ،بلکه همغسي چي د خداي دلوي علم دقانونمندی له مخي دا لوي جهان دټولو علومود قوانينو او ټولو اجزاوؤ دوجدي حالتونو په ارګانيک تداخل سره ددي لوي جهان او هر خلقت او اجزاوؤ بقاء پايداره ساتي ، خود هر حالت

او وضعيت په کمترين تغير سره همزمان تغير مومي. دروح د پيدا اينبت او بقاء په پروسه کې همداسې تفاوت او ديالکتيکي تحول او تکامل ته اشاره شوي ، او تکامل او تحول پخپله مختلف اشکال دحرکت ګڼل کيږي . هر حرکت با الذاته کثيرالجوانبه او کثيرالبعدي پديده ده . پدې معنا چې هيڅ حرکت په ځانګړې محدوده کې مقيد نشي پاتې کيدلي او همزمان په متوالي ډول په نورو او نورو حرکتونوبدليږي او هر حرکت پخپل نوبت د انرژي مختلف ډولونه منځته راوړي او هغه د نوي کمي او کيفي پديدو د ايجاد سبب ګرځي .حرکت ابدي اود خداي د مقضي ارادي سره سم د ابديت ضامن ګڼل کيږي . دغه پروسه په متواتر ، مستمر او متداخل ډول دوام پيدا کوي او دمختلفو خلقتونو او پديدو د رنګينۍ او تنوع علت او انګيزه ګرځي . مونږ دمخه د فلسفي اساسي مفاهيمو په باره کې دا هم ويلي وو چې « ماده متحرکه ده ځکه چې موجوده ده او موجوده ده ځکه چې متحرکه ده » . کله چې حرکت مجرد مفهوم او پديده نشي پاتې کيدلي نو هيڅ مادي واحد او په هغه جمله کې روح هم د آمري خلقت او حقيقت په حيث مجرد مفهوم او پديده نشي ګڼل کيدلي . د انساني روح د پيدا اينبت په پروسه کې د انساني وجود د کمي او کيفي متکامل او متحول خلقت په حيث څلور مياشتيني ميعادد روح دظهور دپاره مناسب او متناسب ګڼل شويدي او يا په بل عبارت دا هغه زماني بعد جوړوي چې انساني وجود پدغه زماني مقطع کې د انساني روح دپيدا اينبت متناسب کمي او کيفي حالت او وضعيت ته رسيږي .

پخپله مياشت ،کال او يا ورځ ،ساعت ، دقيقه ،ثانيه او يا نور زماني واحدونه ټول نسبي مفاهيم دي . د مثال په ډول د نجوم علم دا خبره معلومه کړې چې حتا زمونږ په شمسي نظام کې د عطارد دسيارې يوه شپه او ورځ دځمکې دشپې او ورځې ۵۹ برابره او يو کال ئي د ځمکې ۸۸ ورځې کيږي ؛ د زهره يوه شپه او ورځ د ځمکې دشپې او ورځې ۲۴۳ برابره او يو کال ئي د ځمکې ۲۲۵ ورځې کيږي ؛د ځمکې يوه شپه اوورځ ۲۴ ساعته او يوکال ئي ۳۶۵ ورځې او شپږ ساعته کيږي ؛د مريخ يوه شپه او ورځ د ځمکې دشپې او ورځې نيمائي يعني ۱۲ ساعته او يوکال ئی دځمکې ۳۸۷شپې او ورځې کيږي ؛ دمشتري يوه شپه او ورځ د ځمکې ۱۰ ساعته او يو کال ئي دځمکې د ۱۲ کلونو برابر دي؛د زحل يوه شپه او ورځ دځمکې ۱۰ ساعته او يوکال ئي د ځمکې د ۲۹ کلونو برابر دي ؛د يورانوس يوه شپه او ورځ دځمکې د ۱۱ساعتونه او يوکال ئي دځمکې د ۸۴ کلونو سره برابر دي ؛د نپتون يوه شپه او ورځ د ځمکې ۱۶۰ ساعته او يو کال ئي د ځمکې د۱۶۵ کلونو سره برابر دي او باالاخره د پلوتون يوه شپه او ورځ د ځمکې د شپې او ورځې ۶ برابره او يو کال ئي د ځمکې ۲۴۸ کاله کيږي. دا هغه ارقام دي چې اکادميسن عبدالاحد عشرتي په خپل کتاب ( اعجاز علمي قرآنکريم ، دوهم چاپ په صفحه ۹۱ ) ذکر کړيدي .لمر څرنګه چې شپه نلري تقريباً په ۲۵ ورځو کې يو وار پخپل محور څرخي او انتقالي سرعت ئي په يوه ثانيه کې ۱۵۰ ميله او د انتقالي حرکت يوه دوره ئي پخپل مدار يعني يو کال ئي تقريباً ۲۰۰ مليونه کاله او يا په بل عبارت د «Milk street, Milchstrasse ـ شيري جاده،د ( کهکشان ) » سفر ۲۰۰ مليونه کاله دوام کوي . ( Qur'an und moderneWissenschaft ,Dr.Zakir Naik , s, 14 ) .پدې ډول ساعتونه ،دقيقې او ثانئې او د انسانانو او نورو خلقتونو او موجوداتو عمرونه د کلونو په حساب هم تغير کوي او کاملاً نسبي مفاهيم لري .

د روح په باره کې دخداي په کلام کې ددې ذکر هم شويدي ، کله چې روح له بدن څخه ووځي انسان مري . د بلې خوا مونږ د انساني آناتومي ، بيولوژي او نورو اړونده علومو له مخې پوهيږو چې د انسان مرګ د مختلفو عواملو له مخې پيښيدلې شي . د مثال په ډول که چيرې پانقراس پخپل وخت ټاکلې اندازه انسولين او ګلو کاګون توليد نکړي ،په وينه کې د شکري اندازه د لازم مقدار څخه ډيره زياتيږي او يا کميږي او دانسان دمرګ سبب ګرځي . دتايرايت غده چې په مرۍ کې ده په بدن کې دمتابوليزم او نورو سترو وظايفو په څنګ کې د ايودين د تنظيم دنده هم لري . که دغه غده له فعاليته پريووځي ،برعلاوه ددې چې دانسان د سترګو ، مرۍ او مخ جوړښت بدلوي ،دمرګ سبب هم کيدلي شي . زړه په بدن کې مرکزي او ډير مهم ارګان ګڼل کيږي . کله چې ځيني ارګانونه ، غدې لکه تريخې ، ځيګر ،پښتورګې او نور پخپل وخت لازم فعاليت ونکړي شي او يا په کافي اندازه انزايمونه ترشح نکړي ، په وينه کې غوړي ،مالګې ،اسيدونه او نور مواد جمع کيږي او دانسان د مړينې سبب ګرځي . پدې ډول ډيرنور مثالونه راوړل کيدې شي چې دځيني ارګانونو د

ناسم غير متناسب او يا دنه فعاليت په صورت کي لازم مقدار ترشحات صورت نه نيسي او انسان مري. پدي صورت کي کولي شو ووايو چي هر يو له دغه ارگانونو څخه ذاتاً په شکل داشکالو د روح دنده سرته رسوي.خو زما په آند دغه ډول قضاوت او پريکړه به ساده لوحانه ،نئيف( ساده ) او پريميتيف (ابتدائي ) وي.

ځيني پوهان روح او نفس يوشي گڼي ،خو ځيني نور دهغوئ په منځ کي فرق او تباين ته قايل دي. هغه کسان چي نفس او روح يوشي گڼي ، شايد د تنفس د مفهوم او ماهيت په بناء ئي دغه ډول نتيجه گيري کړي وي ، ځکه چي د تنفس په بنديدو هم انسان مر ي . ابو علي ابن سينا دروح د وجود داثبات په باره کي خپلي رسالي او کتابونه د « نفس » تر عنوانونو لاندي ليکلي دي لکه: « دناطق نفس پيژندنه » ، «د نفس په باره کي د خلکو اختلافات» ، « دبدن سره د نفس اړيکي « ، « علم النفس » او د « نفسي قواوو څيړنه » .مولاناجلال الدين بلخي د روح لپاره د خواجه سناي په مرثيه کي دجان کلمه استعمال کړي او کثير الوجهي شخصيت او ابعاد ورته قايل دي.

گفت کسي خواجه سناي بمرد مرگ
چنين خواجه نه کاريست خرد
کاه نبود اوکه ببا دي پريد آب
نبوداو که به سرما فسرد
شانه نبود اوکه به موي شکست
دانه نبوداو که زمينش فشرد
گنج زري بوددرين خاکدان کو
دو جهان رابجوي مي شمرد

قالب خاکي سوي خاکي فگند
جان خرد سوي سما وات برد
جان دوم را که ندانند خلق
مغلطه گوييم به جانان سپرد
صاف درا ميخت به درد مي
بر سر خم رفت جدا شد زدرد
در سفر افتند بهم اي عزيز
مرغزي ورازي و رومي و کرد
خانهٔ خودباز رود هر يکي
اطلس کي باشد همتاي برد
خامش کن چون نقط ايراملک
نام تو از دفتر گفتن سترد

«کليات شمس تبريزي ،ص ۳۶۸»

سره ددي دغه ډول اظهارات څه ناڅه دواقعيتونو سره سمون هم لري او دځانگړو اعضاووڅخه نيولي دحجراتو تر کچي پوري د ځانگړو مادي واحدونو وجدي حالت او يا په بله معنا د هغوئ روحي حالت به افاده کوي ، او يا که دغه تسلسل ته دانسان دنوع د عموديت او افقيت څخه نيولي دټولو خلقتونو په ټولو ابعادو کي دټولو وجدي او روحي حالتونو د انتگريشن او ديفرنسيشن سلسلي او ځنځير دجهاني روح او وجدي حالت پوري ورسوو ،يوائي په هغه صورت کي موږ دځانگړو مادي واحدونو او په کل کي د جهاني روح او وجدي حالتونو د ماهيت او واقعيتونو په باره کي علمي منطقي تصور پيداکولي شو .دخداي برحق کلام ځکه تأ کيد کوي چي: « قُلِ ٱلرُّوحُ مِنۡ أَمۡرِ رَبِّى وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ إِلَّا قَلِيلاً». په ربښتيا چي انساني روح ډيرپيچلي هراړخيز خدائي آمري خلقت او يوائي دخداي په اراده او معينو شرايطو او وسايلوسره

انسان دهغي په معرفت لاسبري کيدلي شي.

ځيني پوهان د همدغه مفکوري له مخي خداي جهاني روح بولي ، حال داچي جهاني روح هم خدائي مخلوق دي او په هيڅ کمي او کيفي ارزش سره د خدائي ذات او صفاتو سره دشرک جوگه نشي گڼل کيدلي . په قرآنکريم کي داخلاص د سورة ترجمه پدي ډول ده (ووايه چي الله يودي . الله بي نيازه دي .نه له چانه زيږيدلي او نه ئي څوک زيږولي دي. او نشته خداي لره برابر سيال څوک ) . که چيري دا خبره ونه منل شي خداي به هم « العياذباالله » د خلقتونو او پديدو دپيدايښت دعلت او معلول په تسلسل کي واقع شي ، چي ممکنه نده.

همداسي ډير پوهان « العياذ باالله» مطلق عقل ،عقل محض ، عقل اول ،عقل کل ، عقل خالص ،سوچه عقل، مطلق جوهر ،جوهر محض ، مطلقه ايده ،طبيعت او ديته ورته خارق العاده اوصافو او خصوصياتو لرونکي پديدي چي اصلاً باالذات خدائي خلقتونه گڼل کيږي دخداي سره په شرک مني او « فلسفهٔ اولي » (لومړۍ فلسفه ) هم دخداي علم گڼي ، حال داچي فلسفه يوائي او يوائي د خداي دلوي علم بشري ذهني بديل گڼل کيدي شي . دمخه موږ ليکلي چي عقلانيت يعني علم او قانونمندي شکل دموجوديت دمادي دي . هيڅ موجود،حتاډير بسيط موجود ، وجود نلري مگر په قانونمند شکل سره . ايادا ممکنه ده چي موږ د يوه بسيط مادي واحد قانونمند موجوديت ، شعور ، انساني عقلانيت او حتا جهاني عقل ، مطلق عقل ، سوچه عقل او حتا بل کوم

خارق العاده خدائي خلقت چي اصلاً
خدائي خلقت دي ،کيدلي شي اوډير
ساده منطق دا مني چي د خداي په حيث
ومنل شي ؟ د جوهر په نامه کوم خاص
وجود ، پديدي او خلقت ته زه قايل نه يم.
زه پدي عقيده يم چي هر مادي موجود
ځانګړي کمي او کيفي اوصاف او
خصوصيات لري . هر ځانګړي کيفيت
کيدلي شي دځانګړي مادي واحد او
پديدي د نسبي جوهر په حيث ومنل شي.
که دغه کيفيت ته مونږ هر نهائي حالت او
موقف هم قايل شو بيا هم دخدائي ذاتي او
توصيفي معيارونو سره سيال جوګه نشي
ګڼل کيدلي .**پدي توګه خالص
جوهر ،مطلق جوهر او يا مطلقه
بي جوهره پديده او خلقت هم
وجود نلري**. د طبيعت په نامه هم کوم
خلقت ،پديده او موجود نه شته . په
طبيعت کي مختلف موجودات ،پديدي
او خلقتونه په ميخانيکي ، فيزيولوژيکي
،بيولوژيکي او يا نورومادي ارګانيک
انتګرالي او ديفرنسيالي وضعيتونو او
حالتونو کي په ټاکلي نظام سره قرار لري.
شک نشته چي لوي جهاني نظام په لوي
جهاني وجدي وضعيت اوحالت کي
قرارلري او يا په بل عبارت د لوي جهاني
روح څخه برخمن دي. خو دغه نظام ، دغه
وجدي وضعيت او حالت او يا په بله معنا
جهاني روح د خداي دلوي علم ،لوئي
قانونمندئ او مقضي ارادي مخلوق او
محصول اوپه لحظوي ستاتيک
ديناميک ديالکتيکي بدليدونکي نظام
کي قرارلري او خداي تغير ناپذيره او
تغير نه منونکي ذات دي. ايا کيدلي شي
مخلوق دخالق سره سيال جوګه بديل جوړ
کړي ؟ ايا ممکنه ده نسبي وضعيتونه او
حالتونه کله هم په مطلق حقيقت بدل شي ؟
او هغه هم په همزمان او هم مکان
ستاتيک ـ ديناميک ديالکتيکي
بدليدونکي نظام کي ؟ هيڅکله نه !!!
مونږ پوهيږو چي د نړۍ ډيرو مشهورو
پوهانولکه کانت د «عقل محض» هګل د
« مطلقي ايده » « جهاني روح » او ډيرو
نورو د همدغه ډول مسايلو په باره کي
څيړني کړيدي . هګل د ايديالستي
ديالکتيک تر عنوان لاندي ديالکتيکي
قوانين د مطلقي ايده د مراحلود پيژندلو
په حيث فورمولبندي کړي ، خو پدي نه
دي پوهيدلي چي ايديالستي ديالکتيک
او قوانين وجود نلري . خداي د خپلي
مقضي ارادي له مخي دا لوي جهان د
خپلو مخلوقاتو د استفادي په خاطر
مسخر او مقدر پيدا کړيدي. ډيرو پوهانو
دا جهان همغسي چي خداي پيدا کړي ،
همغسي ئي څيړلي او پيژندلي دي .دي
کي شک نه شته چي مونږ ډيرو کوچنيو
ذراتو ، تششعاتو ، ساحوي ، پلازمائي
او د پديدو او خلقتونو د ډيرو نورو
حالتونو او وضعيتونو داحساس او
ادراک څخه دتل او يا تر يو وخته پري
عاجز يو . خو دا خبره هيڅکله دا معنا
نلري چي دغه محيطونه غيرمادي ، ما
بعدالطبيعه ، متا فزيکي او يا د ماديت د
محيط څخه وتلي کوم بل ډول حالت غوره
کړي .د خداي دا لوي جهان هرډول نسبي
حالت غوره کولي شي ، خو د ماديت
دساحي څخه وتل ئي ناممکن دي .ځکه
چي د خداي جهان د کوچنۍ ذري څخه
نيولي تر خورا لوي مادي موجود پوري
دخداي دارادي له مخي په قانونمند شکل
سره واحد تړلي جهان جوړوي .هغه پوهان
چي دخداي دارادي په خلاف موضع غوره
کوي او يا دناسم تحليل له مخي بيا هم
غواړي د « مُثُل » «مابعدالطبيعه »
«متافزيکي» اود هيڅ په بنياد تخيلي او
تصوري فورمولبندئ او تيوري ګاني
جوړي کړي ، پايلي ئي معلومي دي چي
تر اوسه ئي په دغه بي بنياده بنيادحتا
يوي هڅي هم مثبته نتيجه نده ورکړي.
ځيني کسان شايد مدعي شي چي ډير
پوهان لکه هګل ،کانت ، دکارت او نور
چي پخپله ايديالستان وو عيني قوانين
کشف او فورمولبندي او ډير حقايق تر
لاسه کړيدي. دليل ئي دادي ، سره ددي
چي دوئ د ذهني او شعوري پديدو مادي
قانونمند موجوديت ته قايل ندي ،خو
عملاً دخپل داخلي ذهني چاپيريال څخه
متأثر او په خپله ذهني هنداره کي د
واقعيتونو نينداره کوي او په دغه بنياد ئي
رحماني او شيطاني خوبونه ليدلي ،
دتصوراو تخيل په پوړيو کي د الهام
،کراماتو ،نبوغ اوپيغمبرانو (ع) د وحي
احساس او ادراک کړي او اړونده
فورمولبندئ ئي د هغوئ په آند په تخيلي
او تصوري شکل طرحه او فورمولبندي
کړيدي . خوزه پدي عقيده يم چي د تصور
او تخيل جالي ( کشتۍ ) هميشه په کاږ
خيژي او لکه دسحر خوبونه تل په
مايوسۍ بدليږي . همدا سبب دي چي د
ډيرو فلسفي مسايلو په باره کي حقايق لا
تر اوسه په ترګمۍ کي پاتي دي. يواځي
علمي قانونمندي څيړني کيدلي شي
مثبتي او دقيقي پايلي ولري.

همغسي چي د خداي په کلام کي د روح د
قانونمند ماهيت پيژندنه مشکله تعريف
شوي او لکه څومره چي د پوهانو هڅي تر
اوسه پدي باره کي بي نتيجي پاتي دي

،په حقه سره د روح موضوع په بيساري وسعت او عمق سره د خداي دلوي علم او لوي قدرت اساسي مفهوم او زړي جوړوي . روح په واقعي مفهوم او معنا د خداي دلوي علم دقانونمندعملي او نظري ديالکتيک منتجه دقيقه محصله او په کل او جز کي د خدائي خلقتونود دقيق نظام دعظمت نمايش دي . د روحي مسايلو دقيقه علمي محاسبه په عالم الاسباب کي نه عملي ، نه ممکنه او نه ضروري ده. دغه محاسبه يواځي د خداي دلوي قدرت ، لوي علم او لوي جهان په امکاناتو کي ممکن ګڼل کيدي شي . اصلاً د عالم الاسباب په عملي ژوند کي ډيري دقيقي محاسبي ضرور هم ندي او نه چا کله د ډبري سکاره د طلا خرڅوونکو په تله تللي. پوهانو ته پدی هم پوهيدل پکار دي چي په کومه محاسبه کي څومره دقت ضرور دي ؟ په همدي خاطر د خداي په کلام کي دروحي مسايلو دمحاسبي اشکال ته ګوته نيول شوي چي پوهان خوشي په خوشي په ناممکناتو پوري ونه نخلي. لکن ، لکه څرنګه چي ما دغه مسئله په خپلو کمو امکاناتو څيړلي ، د روح د قضي په دغه روحيه او ماهيت پوهيدل حتمي دي. نه چي پوهان هم خپل او هم دنورو قيمتي وخت په عبثو خبرو ضايع کړي . خو ددي ټولو خبرو سره سره ، همغومره چي خدائي نظام مغلق او پيچلي دي ،په همغه اندازه دقيق او قانونمند هم دي. د مثال په ډول ، ايراني شاعر ويلي وو « ما زاغاز وزانجام جهان بي خبريم «»» اول واخر اين کهنه کتاب افتاده است » ،خو ما په خپلو دلايلو سره وښودل ،سره ددي چي قديم په قديم کي هيڅکله وجود نه درلود ، حال په لحظوي ډول ګذرا پديده او ابد هم هيڅکله ابد ته نه رسيږي ،بيا هم څرنګه چي جهان قانونمند پيدا ، قانونمند پائي او قانونمندبدلون مومي ،په پرنسيب کي د هري پديدي افاده او محاسبه په هر زماني او مکاني بعد او مقطع ممکنه ده. خو په دغه بوده او تنسته (عرض وطول ) کي يواځي د علم او قانونمندۍ مزي غزيدلي شي او د تصور او تخيل خودخواهانه او جاه طلبانه قد تل پدي طول و عرض کي کوتاهي کوي. نو ځکه دروح دعلمي قانونمند خلقت په روحيه پو هيدل حتمي او ضروري کار دي .ډير خلک له دي څخه ډار لري چي څه ډول د ديني مسايلو په باره کي بحث وکړي.زه پدي عقيده يم ، کله چي خداي انسان ته دعلم او پوهي استعداد ورکړي ،پدي نړۍ کي ئي خپل خليفه ټاکلي ، ددغه ټولو خلقتونو په معرفت ئي مکلف ګرځولي چي خدائي خلقتونه وپيژني اود خداي د مخلوق د استفادي وړ ئی وګرځوي او همدغه د بشري خلقت او ژوند اساسي هدف او همدغه د خدائي طريقت ،شريعت ، دين ، عبادت او ثواب يواځينی هدف او لار هم ګڼل کيږي ، که چيري يو انسان پخپل خداي پوره ايمان ولري ، جمعي د خير ښيګڼي سپيڅلي ارمان ،تقوا ، صداقت او کافي پوهه ولري نو ډارئی په څه کي دي ؟ زما په عقيده ،دغه ډول انسان په پوره جرئت سره کولي شي دخداي درضاء اوقضاء سره سم هر خدائي خلقت د نيک هدف او مقصد د تر لاسه کولو په خاطر وڅيړي او فورمولبندي ئي کړي ،اجر به ئي حتماً احسن او پايله به ئي هم نيکي او ثواب وي.

زما په عقيده ، څرنګه چي د روح موضوع د خداي د علم او همداسي دهغي د بشري ذهني خلف ، فلسفي اساسي زړي تشکيلوي ،پکار دادي په راتلونکي کي په دي موضوع تم شو او زما په عقيده ښه به داوي که مونږ خپل نظر د پخوانيو نظرياتو په مقابل کي د علمي منطقي ديالوګ په شکل وړاندي کړو حتا د هغه لوستونکو لپاره چي يواځي لومړني ( ابتدائي ) فلسفي معلومات هم ولري ، پوهاوي به ئي ورته ډير مشکل نه وي. د اوس لپارّ په پورتنۍ سريزه بسنه کوم

# خپلواکي د ډالرو په شرنګ، د بوتل په کړنګ او د اهسته برو په تال کي

کره کتونکی:
ډاکټر رحمت ربي زيرکيار

يوه مياشت وړاندې د ۲۰۰۹کال په مۍ کې د يوه امريکايي ژورناليست او ليکوال له قلمه په افغانستان کې د امريکې د يرغل په اکله يو کتاب رااووت: ډُګ ستانتن , سواره عسکر:دامريکايي عسکرود يوه غونډ فوقالعاده کيسه چې په افغانستان کې بري ته رسېدلي وو ،نيويارک،لندن، تورانتو:سکرايبنر، ۲۰۰۹مۍ . ليکو١ل له سلو نه ډېر کتابونه، مضمونونه او برېښنا ځايونه او په مساوې شمېر مرکې کارولې دي. د لته

## په افغانستان باندې د امریکې د یرغل د لومړیو شپږو کیسه راسپړل شوې ده

Doug Stanton, Horse Soldiers:The Extraordinary Story of a Band of U.S. Soldiers Who Rode to Victory in Afghanistan. New York,London,Toronto:Scribner, May 2009,pp.xvi + 393

مخکې له دې چې په پورتنی کتاب خپله کره کتنه وکاږم د باب وُډ وارډ «بوش په جنګ کې»، ۲۰۰۲، له کتاب نه به یو څو مطالب را و اخلم چې د اوسنۍ کره کتنې سره اړخ لګوي. په کال ۲۰۰۱ کې د ۹۱۱ له بخولې نه دوه ورځې وروسته د امریکې د مرکزي استخباراتو مشر جورج ټېنېټ د ملي امنیت د جرګې غونډې ته خپله مفکوره وړاندې کړه چې شماي ټلواله دې تقویه او تمویل شي. د سي آې أئ ټیمونه او په « ټنونو پیسې » کولی شي چې شمالي ټلواله په یو اغیزمن جنګي قدرت واړوي.ولسمشر بوش ددغې ډ الروالې د انفرادي مشرانو په اکله معلومات وغوښتل. کوفر بلک چې په سي آې أئ کې د تروریزم پر ضد د مر کز مشر و، ورته د شمالي ټلوالې یو « مهم جنرال» عبد الرشید د وستم ورمعرفي کړ چې «له هر چانه یې معاش اخیستلئ و: روسیه، ایران او پاکستان» ګري شرون په کابل کې د سي آې أئ د څانګې مشر -۱۹۸۸-۱۹۹۰و او له ۱۹۹٦ تر ۱۹۹۹ په اسلام اباد کې د سي آې أئ د څانګې مشر و. نوموړي له د وه د برش(۳۲) کلونو راهیسې په سي آې أئ کې د عملیاتو د ریاست یو مامور و. هغه په تهران، اسلام اباد، د وبۍ،کابل او سعودي عربستان کې د سي آې أئ لپاره مخبران استخدامول، روزل او اداره کول. د باب وډ وارډ په اند، شمالي ټلواله یو «اجیر قدرت» و چې د سي آې أئ په لګښت چلېده. ګري شرون له (۹۱۱) برید ونو نه نهه ورځې وروسته( سپتمبر ۲۰، ۲۰۰۱) د تاشکند له لارې د شما لي ټلوا لې د سیمو په لوری وخوځېد . د هغه لومړئ کتنه د محمد عارف سروري سره وه چې د مسعود د استخباراتو او امنیت د چارو مشر و. عارف چې نږدې نهه میاشتې وړاندې، په د سمبر ۲۰۰۰کې، یې ګری شرون په پاریس کې لیدلی و، ویې پېژانده، او په خوښۍ سره یې ګري ته وویل: «تاسې هلته وئ»( یُو وار د بېر) . ګري سر وخوځاوه او نیم ملیون ډالرې یې د عارف پر مېز کېښودلې. معمولاًبه ګري دوه سوه زره ډالرې ورکولې،خودا ځل یې دغه مبلغ دوه نیم چنده کړ چې په عارف باندې زیات اغیز وکړي. ددفاع وزیر رمسفیلډ او جنرال تامي فرنکس دواړه « په شمالي ټلواله او جنرال فهیم شکمن وو» ځکه دوی په دې کې « سست» وو چې « پخپله وخوځېږي» . ډي آې أئ یانې د دفاعي استخباراتو ایجنسي په خپل «خورا پټ» یاد ښت کې «په غټه اندازه په جنرال فهیم پړه اچوي، اساساً یې چټې سړی (ویمپ) ګڼي چې غرېږي او غرېږي، خو جګړې ته نه راوځي. فهیم هېڅکله هم جګړې ته چمتو نه و.تل به یې د ډ برو پیسو او ډ برو کالتوسو اړتیا څرګندوله.» ګري شرون په پنجشېرکې(۲۷-۹-۲۰۰۱ )د کوماندان محمد فهیم او ډاکټر عبدالله سره ویني او« یو میلیون ډالرې ورته په مېز» ږدي. فهیم ورته وایي چې « موږتاسې خلکو ته ښه راغلاست وایو» او «هرڅه مو چې له لاسه کېږي وبه یې کړو.» د باب وډ وارډ په کتاب باندې د کره کتنې لپاره ولولئ: ډاکټر رحمت ربي زیرکیار،د نوي سیا ست الجبره: د امریکې د امپراتورۍ لپاره فکرونه، ستراتیجۍ، پلانونه، عملیات، ډ نډ ورې اوغولونې ۱۹۸۹ تر ۲۰۰۵. خپرندوې:د پښتني کولتور د ودې او پراختیاټولنه ـجرمني،چاپخونه:دانش خپرند وی ټولنه، پېښور، نومبر ۲۰۰٦، مخونه :۳۰۳تر۳۱۸ . راو به ګرځم په تازه چاپ شوي « سواره عسکر» نومې کتاب باندې خپلې کره کتنې ته .

ډګ ستانتن په خپل کتاب کې چې په مۍ ۲۰۰۹ کې خپور شوی دی، لاند ینیو موضوعګانو ته پام کړی دی:(۱)د خا صوقوا و عسکر-سپېشل فورسېس- او د مرکزي استخباراتو (سي آې أئ) عملیات چیان یانې اُپېرَتیوز ؛(۲)د امریکایي عسکرو د مېړنو احساسات؛ (۳)د امریکې هڅه چې د افغانستان «مظلوم خلک » د «خپلواکۍ» په نعمت ښاد کړي؛ (۴) د جنګ پخوانئ ستراتېجي (سواره نظامیان =کاوالري) چې د یوویشتمې پېړۍ د جګوارتباطي تخنیکي وسایلو اوهوایي بمباریو سره غبرګه شوې ده؛ او (۵)د شمالي ټلوالې جنګسالاران چې دامریکې یرغل یې په کا بل کې د « اهسته برو» په ګلالئ کلتوري سند ره(زیرکیار) ونازاوه «د پنجشېر زمری» احمد شاه مسعود چې د طالبانو سره له اووه (۷) کلونو راهیسې په جنګ اخته و،اقرار کوي چې طالبان « بري ته نږدې وو.» (مخ ۲۰) . احمد ملک په ۱۹۹۷ زېږیز کال کې د دوستم سره په غلیمۍ کې اخته شواو د طالبانو ډلې ته واوښت. طالبانومزارشریف ونیوه،او دوستم ،چې یو افغان ډاکټر ستانکزي

ورته په سهیلي کلیفورنیا کې په بوه ستره افغاني غونډه کې« د و» ستم ویلي و ، حیرتان ته وتښتېده چې له مزارشریف نه شمال خوا ته په ۴۵ میله واټن کې پروت دی. د ملک پلویانو د حیرتان پُل په خوله کې پخپله د وستم اودهغه سره بد رګه ډ لګۍ له موټره راکوز کړل. د وستم او بدرګه چیانو یې خپل جېبونه تش کړل، وسلې یې تسلیم کړې، او بیا په پُل تېرشول. ملک بیا د هزاره ګانو د مشر اسماعیل سره غبرګ شو ،او د دوی دواړو خواو خلکو د «شپږ زرو تر آته زرو طالبان د اونیو په اوږدو کې ووژل»- اسماعېل د محقق پخوانی (سلف)و. (مخ ۱۱۰). په شمالي ټلواله کې د رې لوبغاړي مهم وو:عطامحمد نور ، د وستم ا و محقق(« ملا » فهیم خان له شمال نه لرې، کابل ته نږدې په عسکري مرکز کې بوخت و ). د ۹۱۱ له بخولې سره جوخت،د وستم د چپچال په شمال کې له کوبکې کلي نه خپل « پخواني دوست» زلمي خلیلزاد ته چې هغه مهال په واشنګټن کې د ولسمشر جورج ډ بلیو بوش د ادارې یو مهم رسمي مامور و ، ټلفون وکړ:« زلمیه، امریکایي دوستانو ته ووایه چې د وی هم د وستان لرې. د غه دوستان موږ یُو» - مخ ۱۱۸

په تېره لسیزه « یا زیاته کې» د وستم، محقق او عطا محمد د یوبل سره په جګړو کې لګیا وو چې که افغانستان په خپله ولکه کې راوستلی شي. د امریکې د مرکزي استخباراتو د نظامي وزمه عملیات چیانو مشر ګري شرون افغانستان ته لاړ چې د وستم، عطا او محقق «همغاړي کړي». د ۹۱۱ له برید ونو نه یوه اونۍ وروسته ،۱۹-۹-۲۰۰۱ ، ګري شرون « د رې پنډ بکسونه بار کړل چې هر یو یې په د رې میلیون سل ډالره لوټونو ډک کړی و.» ددغه مبلغ موخه داوه چې د شمالي ټلوالې په « جنګسالارانو» یې د « بډ و» یانې رشوتونو. برایبز - په څېر ووېشي او وفامني یې کرایي کړي .هغه مهال چې امریکایي زمکنۍ کوماند ان میچل مارک د خپلو سپرو عسکرو سره مزارشریف ته راورسېده، هلته یې د طالبانو واکمي رانسکوره کړه. « د مزارشریف خلکو هغوی ته ګلونه اوکوګۍ وراچولې وو (هَډ ترون فلاورز1 نډ کیسېز)، د هغوی اسونو ته یې څانونه ورغځولي وو، او د هغوی د ارتو کارګري-عسکري پتلونونو ناپاکې پیڅې یې راښکلې وې....میچل ته داسې احساس پیدا شوی وچې په د وهمه نړۍ واله جګړه کې به وي-د خپل نیکه په جګړه کې چې د نازیانو له تېښتې نه وروسته پاریس ته ورننوتلی و.» (مخ ۳۷ (

په کتاب کې دامریکې لپاره د شمالي ټلوالې د غټانو چوپړ ستایل شوی دی. خو سره لدې هم لیکوا ل له د ښه ډ ډه نه د ه کړې چې د خپلو خد متګارانو ماهیت راجوت کړي. لیکوال څو ځلې داسې لاسوند ونو (شواهد و ) ته ګوته نیولې ده چې د هغه مهال د شمالي ټلوالې مهم مشر د وستم یو شرابي ، عیا ش اوپیسه ګل سړی معرفي کوي .د بېلګې په ډ ول: د وستم د ملا عمر پلویان په د وه کارونو « راټیټول» : (۱) د خپلو ډ بروسپرو نظامیانو- اِنفانتري- په واسطه،او (۲) « د راپور لَه مخې» د هغو ګاړیو(واګون ترېن) په واسطه چې « فاحشې به پکې له یو ښار نه بل ښار ته د ملیشود خد مت لپاره په سفر کې وې» (مخ ۹۷) . لیکوال زیاتوي چې: « پخواني جنګسالار د وستم په مزارشریف کې یومانۍ وزمه کور( پلېشَل ) لاره چې په باغ کې به یې له فرانسې نه راوړل شوي طاوسونه جوپې جوپې ګرځېد ل اوامریکایي الکهولي مشروبات (لیکر) به پکې په کریستلي بوتلونو کې په ماهون مشروبتونونو ( مهاګني بارز ) کې ذ خیره شوي وو.»( مخ ۱۰۹)- مهاګني یانې ماهون یو ډ ېر معتبر لرګی دی چې قیمتي څیزونه ورنه جوړېږي. په پښتو کې ورته بلمز ئ ویلی شو چې د رنجو (سرمه) د استعمالولو لپاره ورنه سلا یې جوړېږي .« د د وستم د څارنې لاندې مزارشریف یو جهاني وزمه ښار و» .خو کله چې طا لبانو په زیږکال۱۹۹۶کې د افغانستان ختیزې او سهېلې سیمې په خپله ولکه کې راوستلې « د وستم وپرشېده :> زه په یو داسې هېواد کې ژوند کول رد وم چې سړی پکې وُد کا څښلی نشي او ښځې پکې کمیسونه (سکرتس) اغوستلی نشي او ښونځي ته تللی نشي <.» (مخ ۵۴).هغه مهال چې افغانستان د شوروي نیواک لاندې و د وستم« واقعاَد روسانو لپاره جنګېده :هغه به د خپلې زوکړې په ښار شبرغان کې د تېلو او ګاس سیمې [د مجا هدینو] له برید ونو نه ساتلې .دوستم په شرابو، ښځو ، او غږ[ټنګټکور،موسیقي] مین و ... د کمو نستانو الحاد هغه نه کړاوه . هغه په قدرت پسې روان و. له قدرت نه په یو نامطمَنه او خطر ناک هېواد کې محفوظیت او سوکا لي راوتل»( مخونه ۵۸ تر ۵۹ ). هغه مهال چې د پرچمي ډ اکټر نجیب د رژیم ټغر « په راټولېد لو شو ، د وستم د مسعود په ملاتړ کې ود رېده» . د د وستم « ستر سیال» ( آرک راېوَل) عطا وه.

د امریکایي مرستو په سر د عطا او د وستم تر منځ تاوتریخوالی روان و. خو د وستم ورته ډاډ ورکړ چې هره امریکایي مرسته به ورسره مساوي(فیفټي-فیفټي) وېشي .د د وستم سره په یوه لید نه کې، امریکایي جنرال سپېنسر غږ وکړ چې: « موږستا سې لپاره یوه بله تحفه راوړې ده»، یانې یو بوتل روسئ وُ د کا. د کتاب لیکوال کاږي چې:« د د وستم سترگې ارتې شوې» ، او ورپسې د وستم جنرال سپېنسر ته داسې ورغبرگه کړه : « ډ بر ښه، فوق العاده» -ویري گوډ ، اِیکسېلېنت- (مخ ۱۱٦). کله چې امریکایي چورلکه کېنا ستله، کپټن میچل نېلسن واورېد ل چې د « وُد کا بوتلونه کړنگېږي. د هغه هیله د ا وه چې که د وُد کا هېڅ بوتل مات نشي وړاندې له دې چې دوستم ته یې وړاندې کړي» (مخ ۱۰۵) . همد غه کپټن نېلسن د کتاب لیکوال ته خپل راز ورسپړلی و چې د وستم به ورته « زما ورور» وایه، او پخپله نېلسن به په دغه لقب « ویاړ احساساوه« مخ ۳۵۲

د د وستم کمپ د صوف سیند په خوا کې د چپچال په سهېل کې په د یهي کې پلن شوی و . په د غه کمپ کې دامریکې د مرکزي استخباراتو-سي آي أئ- نظامي وزمه افسرانو« ځانونه د > بابا داود <...،> بابا جئ جئ < او > بابا مَیک <په خبر معرفي کړل.» له « بابا دا ود« یا « ورور داود» نه مطلب ډ بوبډ اُولسن و. دغه شان له « بابا جئ جئ » او« بابا مَیک» نه مطلب په ترتیب سره جئ جئ سویَر او مَیک سپَن و. محقق « پوه شو چې دغه سړي د سي آي أئ په خدمت کې وو. محقق ما یوس شو چې د هغوی په منځ کې

یې عسکر ونه لید ل. هغوی هم د خښتو په کچه په پېړو ډ ېرو نیلوني کڅوړو کې منډ ل شوي امریکا یي نوټونه راوړي وو . د محقق په اټکل، دا پیسې د هغې جایزې برخه وه چې د فهیم خان لاندې کوماندان عطا محمد نور ته به ورسپارل کېږي...پخپله[فهیم] خان دوه سوه میله لرې په سهېل کې د کابل په خوا کې په مرکزي کمپ کې اړولي و و....د وه ورځې وړاندې گري شرون [د سي آي أئ د ټیم مشر] د [فهیم] خان کلي ته ورسېد او سرسخت جنگسالار ته یې یوعشاریه د ري میلیون ډالرې ورکړې» مخ ۵۷

د کتاب لیکوال ستانتن په افغانستان کې د امریکایي آس سوارانود کوچني غونډ « حماسي برې» د اوسني جنگ او راتلونکو جنگونولپاره یوه « نمونه» -تېمپلېټ - گڼي(مخ ۳۴۵ ) .خو د کتاب په وروستنیو مخونو کې لیکوال مني چې امریکه د خپل یرغل د سریز برې په ساتنه کې ناکامه شوې ده .« د مرستو لپاره په میلیونونو ډ الرې هېواد ته ورتویې شوې. خو دغه مبلغ په کابل متمرکز شو-یو ښار چې اوس په غیرحکومتي کارکوونکو او د پلوماتانو ډک شوی دی، او هغوی په اطرافو کې د طالبانو له برید ونو نه ډ ارېږي. ددغو پرمختگونو په رڼا کې، امریکایي ماموران د ومره و ړاندې تللي دي چې د طالبانو د سازمان د ملایمو توکمونو سره د معاملې لپاره خپل نوی رضایت ښئ« (مخ ۳۵۹) . لیکوال د امریکایي آس سوا رانو د کوچني غونډ زړه ورتیا د گڼ شمېره طالبانو د ناکامۍ سره پر تله کړې ده. خو له یاده یې وتلې ده چې امریکې د افغانستان په یرغل کې د یوویشتمې پېړۍ میندې

بوروونکې هوایي بمبارۍ اوپه جگه سویه تخنیکي ارتباطي وسیلې کارولې دي -هغه څه چې طالبان ورنه په نږدې مطلق ډ ول محروم وو. وگورئ،د طالبانو وسلې دومره ابتدایي وې چې ایله د ځو اونیو په اوږد و کې یې د بامیانو مړ بورانسکور کړی شو .که لیکوال د طالبانو د بې جسمه وسلې -سرتېرتیا - په اکله یو څه کړکیچو یانې مات گوډ معلومات وړاندې کړي وای، ښایي خپل کتاب به یې له د ېنه ساتلی وای چې د ډ نډ ورې ټاپه وخوري. زه چې ورته کسم، ناشونې به نه وي چې دغه کتاب ته به د امریکې د د فاع د پخواني وزیر د انالد رمسفیلډ-۲۰۰۱ تر ۲۰۰٦-خوله ډ بره گوړې گوړې شي. دغه شان، په کتاب کې یو مهم کتاب نه دی کارول شوی چې د شمالي ټلوالې د اتل احمد شاه مسعود سره د شوروي پوځونو پټه یارانه پکې راجوته شوې ده: بروس جي ریچارد سن، افغانستان: د شوروي ترور واکمنی پای ته رسول - بېند، اوریگون : ۱۹۹٦ ماوریک پبلیکېشنز، ۱۹۹٦ . ددې کتاب اصل په انگرېزي ژبه خپور شوی و.افغا نستان : اِند ېنگ دي رَېن آف زوېت تېرور . اوَربدلي مې دي چې دا .کتاب په پښتو کې هم خپور شو ی دی

Bruce G. Richardson, Afghanistan: Ending the Reign of Soviet Terror. Bend,Oregon: Maverick Publications, 1

خپرونه د ټولو خپرو شوؤ لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلی او شرط نده چی د ټولو خپرو شوو مقالو فکری نظر دی د خپرونی د نظر سره یو ډول وي

# دموکراسي او انتخابات

ډاکټر حرکت

څه واده به دهغي خواري دختر وي
چي نکريزي ئي خپلي ويني دځيگر وي

سره ددي چي دموکراسي او انتخابات لازم و ملزوم او انتخابات ددموکراسۍ لازمي او کافي شرط گڼل کيږي ، خو په نننيو نړيوالو سرمايداري منا سباتو کي يواځي انتخابات دي چي دموکراسي ئي اپوته کړيده.

د قانون ،سياست ،حقوقو ، ټولنپوهني ،ټولنيز عدالت ،سولي ، دموکراسۍ او ټولنيز سوکاله ژوند پوهانو ، پلويانو او مبارزينو پدي خبره اډو فکر ندي کړي ،کله چي حکومت (لکه چي د لغوي او اصطلاحي معنا او مفهوم څخه ئي واضح او څرگنده ده )، چي تحکم ، برلاسي ، واک او اقتدار ئي دبقاء عامل او وسيله اوسي ، څه ډول دد موکراسۍ په عامل او ضامن بدليدلي شي ؟ دموکراسي او حکومت دوه متضادي ديالکتيکي پديدي دي چي يو بل نفي کوي او سرمايه د حکومت دتحکم نا بکاره وسيله او عامل گڼل کيږي.پوليس ، عسکر ، لښکر ، چاکر ، نوکر ،توپ ،ټانک ،طياره ، اداره ، قانون ،حقوق ، مطبوعات ، دموکراتيک نهادونه ، بنيادونه ، ارگانونه ، انستيتوتونه او ديته ورته مؤسسات چي د حکومت څخه د اولس د نجات ضامن گڼل کيږي د سرمائي خاوندان ئي د خپلو سرمايو په قوت په اصطلاح د خپل منتخب حکومت په زور ، ددي په عوض چي اولس دغه ټولي اداري پخپل واک کي ولري ، حکومت غصب کړي او په اپوته شکل ئي د اولس پر ضد ، حکومت پخپل واک کي لري او په په ډير بي رحمانه شکل ئي د هغوئ پرضد پکارو ي . دموکراسۍ هيڅکله وجود نه درلود او نه به ئي ولري او په اصطلاح دموکراتيک استثمار د تاريخ په اوږدو کي د حسابي تصاعد په کچه نه بلکه هميشه دهندسي تصاعد په کچه لوړ تللي دي . هره دموکراسي يعني د معين ټولنيز ـ سياسي نظام او ټاکلي متشکل حکومت ديکتاتوري ، دنن ورځي دگلوباليزم په کچه بي حدو حصر استثمار . نني سياسي ـ ټولنيزم نظام يعني نني نړيوال مونيپولار حکومت او اقتدار يعني نړيواله سرمايداري مافيااو يا په بل عبارت نننۍ سراسري نړيواله کرکه او نفرت ،ترور ،وحشت ،بربريت او يو تر بل وژنه او با الاخره عامه تباهي. ځکه چي سرمايدار ځان او اولاد له لاسه ورکولي شي ،خو سرمايه نه .

نابغه عالم او شاعر گل پاچا « الفت » ليکي:

په لښکرو ، په عسکرو پهره دار
خزاني خپلي ساتلي شي سرکار
خو دعام نفرت نه ځان ساتلي نشي
په توپونو ، په ټانکونو زرهدار

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَـٰكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَـٰكُمْ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓا۟ ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ (١٣) ترجمه : اي خلقو بيشکه مونږ پيدا کړي ئي تاسي ( ټول اصلاً )له يوه سړي چي (ادم ) او له يوي ښځي چي ( حوا )ده او گرځولي ئي مونږتاسي څانگي او قبيلي قبيلي دپاره ددي چي وپيژنی يو له بل سره بيشکه چي ډير مکرم او معززله تاسي څخه په نزد دالله ډير متقي ادب لرونکي ستاسي دي.بيشکه چي الله تعالي ښه عالم ډير خبر دار دي.

پوښتنه پيدا کيږي ،څوک نن په ټوله نړۍ کي دغه ارزش ته قايل دي؟کوم يو له دغه ۴۳ جمهوري رياست ته افغاني کانديدانو څخه د تقوا ، کرم او د خلکو په نزد کوم عزت او اعتبار خاوندان دي ،پرته لدي چي له خارجه وارد شوي ،اجنبي ښه خدمت گذاره ،وطن او اولس دښمنه اوسي ، په سلو، زرو فسادونو ، خيانتونو ، جنايتونو او د پردو سره دوطن او اولس د سرنوشت په سر معاملگريو دوسيو ئي ډيپو گان ډک کړي ،د پرديو د گټو دساتلو په خاطر په ښکاره ډانگي گرځوي او دمختلفو استخباراتي سرويسونو کارتونو ئی جيبونه ډک کړيدي.

هو ! حکومتونه په حقيقت کي هغه غداران دي چي خپل ټول روا امکاناتو يواځي په په ناروا ډول د خپل حاکميت او اقتدار په لارکي په کار اچوي . نو ځکه زمونږ کانديدانود خارق العاده بي بنياده او بي مورده خدمتونو لاپي لا ختمي نه وي چي سمدستي دا ولسواليو په ولايتونو بدلولو ، د وزارتونو ، د جمهوري رياست دمعاونتونو او نو رو امتيازاتو په سر د معاملگريو خوندور اوږده بحثونه دوام پيدا کوي. پدي صورت کي افغان اولس

له دغه ډول ټولټاکنو او کانديدانو څخه د څه ډول خدمت آو چا لپاره توقع لرلي شي ؟ په افغانستان کي ټول ميشت خارجي قوتونه او مختلفي نمايندگئ نه يو وار بلکه په وار وار د خپلو دغو زړو شاجانيانو په بي کفايتۍ او په افغانستان کي د اداري ،قانون ،حقوقو ،... او په کل کي د نظام په

عدم موجودیت اعتراف کړي . که دا خبره سمه وي،ټولټاکني د کوموااصولواو

نورمونو له مخي کيږي ؟

د څه لپاره کيږي ؟

او څه ارزش به ولري ؟

## د مرحوم «بېنوا» شعري او وطنپرستانه احساس

سر تر پایه سره لمبه سوم
روغ زړگی می سوی سکور سو
نه ايرې نه می دود ښکاری
بل راباندی څنه اور سو
نه لمبه می سوه خاموشه
نه رڼا دا تیاره کور سو
په نارو می گل ویښ نه سو
څه عبث می د خولې شور سو
آه سپېره لو هدیره ده
له بلبلو دا بڼ تور سو
ټوله مړه دی ټوله مړه دی
که زاړه دی که واړه دی
دلباخته شیدا بلبل وم
کړه پر گل می آوازونه
سحری نغمې کی گل ته
راوړه ما پټ الهامونه
ما وې زه به گل خبر کم
د خزان له شواخونه
گل ویده غماز را پاڅېد
زما یې مات کړل وزرونه

*****

آه و چاته درد اظهار کم
په سینه می ځی خارونه
ټوله مړه دی ټوله مړه دی
که زاړه دی که واړه دی
په خندا په نڅا راغلم
ما وې اوس به نو هوس کړم
د سره گل پر څانو باندی
به خوشاله خپل نفس کړم
د بوستان زیب و زینت به
په نغمو کی یو په لس کړم
دا ویدې غونچې به ویښی
په آهنې د خپل جرس کړم
له صیاده چاته زار کړم
چی بندی یې د قفس کړم
ټوله مړه دی ټوله مړه دی
که زاړه دی که واړه دی
پرون گل سره همرازوم
نن یې بوی موندلای نه سم
چاله سېله راجلا کړم
خپل همزولی موندای نه سم
وزرونه یې رامات کړل
په هوا الوتای نه سم
ژبه تېزه لرم خوله ک
خو آزاد ږغېدای نه سم
غمشریک یاران می ولاړل
زه تنها پا تېدای نه سم
ټوله مړه دی ټوله مړه دی
که زاړه دی که واړه دی
بڼ خالی له زوږ او شور سو
آواز نسته د بلبلو
ځالی ورانی پاتی ژړی
سرخی والوته له گلو
نه به بیا د گل لمن وی
چی یې نیسم په منګولو
نه غیبی قاصد به راسی
چی احوال راوړی د تللو
نه ملری سو را پاته
د خپل زړه د راز ویلو
ټوله مړه دی ټوله مړه دی
که زاړه دی که واړه دی
ښه دی ښه چی گل تالا سو
له خزانه به څه وایم
جوړ بهار پر ما خزان دی
چی قفس کی مبتلا یم
آه صیاد له سخته دله

لا به څو په واویلا یم
له ازله بد نصیب یم
داسی نه چی نن پیدا یم
څوک می نسته چی می یاد کی
بېنوا یم بېنوا یم
ټوله مړه دی ټوله مړه دی
که زاړه دی که واړه دی

هندوکش پر سر لمبې دی
که آسمان سره کناره ده
د کوم سوی زړگی آه دی
یادوینو فواره ده
او که درس دعبرت لیک دي
ښه رښینه افسانه ده
موږ ته یاده جانبازی کړی
د نیکونو سر بازي کړي
د مومن د زړه په وینو
شیرینو سور کړی لاس دی
که کفن د شهیدانو
پرښتو نیولي پاس دي
یا دنیا کی خونرېزی ده
پر افق یې انعکاس دی
یا شفق دکوهستان دي
راچاپیره پر اسمان دي

که چنهیز دعصر توره
چی له تیکی را ښکاره ده
یا خو بل د مینی اور دي
د فلک پرې سوی کور دي
یالیوال روح دعاشق د
چي ورځي دیار سلام ته

او که درس دعبرت لیک دي
ښه رښینه افسانه ده
موږ ته یاده جانبازی کړی
د نیکونو سر بازي کړي
د مومن د زړه په وینو
شیرینو سور کړی لاس دی
که کفن د شهیدانو
پرښتو نیولي پاس دي
یا دنیا کی خونرېزی ده
پر افق یې انعکاس دی
یا شفق دکوهستان دي
راچاپیره پر اسمان دي

## سفر — عبدالغفور لیوال

ته لکه د خوږ شگو کې سپینه اوړنه چینه
زه لکه دغره د کمره خواته راوتلی گل
ته چې په ملا ماته شې نغمه د شرشرې راوړې
زه لکه ددنگ کوچي پگړۍ کې یو ټومبلی گل

ته لکه د سپینې شیدوپۍ پاڼه کې سره ننبه
زه لکه سهارکې د بیباکه نسیم ښکلی موج
ته لکه د سیند په غاړه جوړه د ماشوم مانۍ
زه لکه ترتا نا رسیدلی بېرته تللی موج

ته کله دروغجنه شې ماشوم درغونه ووایې
زه دې انگوکې د یوپټ شرم گل ووینم
کله چې بانه جوړه کړې لویه کیسه پیل کړې
دروغو کې دې هم څه خوندور تخیل ووینم

ته لکه د سپین قرآن د کرښو جنتي وږمه
زه لکه د عرش له منارونه د اذان آهنگ
هلته په جنت کې یوه سیمه پښتنه هم شته
ما او تا راوړي له هغه ځایه د عشق لونگ

خدای خبرچې موږ به دې دنیا ته څه او څه ښکارو
څه خبر چې موږ به په کوثر د عشق پریو للي یو
زرځلې د مینې شهیدان شو له دنیا ولاړو
بیا لکه آدم او حوا ځمکې ته راغلي یو
دواړه ماشومان یو دواړه ښکلي یو سپیڅلي یو
دواړه د جنت له پاکې ځمکې نه راغلي یو
کله سره لوبې کړو او کله سره جنگ وکړو
کله بیا د میندو پر زنگون باندې خوب وړي یو

دا خلک ژړلی نه شي سترگې یې خیرنې دي
موږ لکه رڼا د ایمان سترگو باندې نه ښکارو
زه او ته د اوښکو په زم زم د زړه کعبه مینځو
بس د خدای دوستانو او ولیانو ته راڼه ښکارو

ای لیونۍ مه ژاړه دا ځمکه خو په وینو ده
اوښکو ته دې پاکه د جنت خاوره له کومه کړم
څه چې په آسمان کې دې له اوښکو ستوري وتراشم
وریځې به زانگو کړمه او تا به یې ماشومه کړم

مه ژاړه راځه چې په چینه کې دې مخ ومینځم
ژوند همدومره بس دی چې اوبوکې زه او ته ښکارو
واړه عاشقان به موږه وڅښي او نشه به شي
موږ به د مینو په خوبونوکې ویده ښکارو

څه چې د گل څانگه کې یو رنگ شو بل وږمه د گل
ښکلي عاشقان به مو یو بل ته په سوغات ورکړي
راشي ملکه چې د مچیو په موږ وگرځي
ولاړه شي ترخو خلکو ته هم په مینه شات ورکړي

څه چې له باران سره پر دوه مینو وورو
یا د سپینې غاړې یا د تور څڼو رنگ واخلو
څه چې د بوسې د جل وهلو تنده ماته کړو
پس له ډیره وخته د خوږو شونډو قلنگ واخلو

څه چې دواړه ورک شو له دې دومره ډېرو سترگونه
ټوله په تاریخ کې تیته شوې مینه ټوله کړو
رایې وړو په دومره ډبرینو زړو یې وویشو
دا تیاره دنیا چې زه او ته رڼا په سوله کړو

راشه ما سفرته ملاتړلې ده روان یمه
بس یوازې لاس راکړه اوسترگې دواړه پټې کړه
زه به دې په شونډو له بوسې نه بسم الله وکړم
ته د اقتدا په نیت له مانه تاوې متې کړه

دکلنی گډون بیه:
- په اروپا کی ۲۰ یورو
- په بهرنیو هیوادونو کي
۳۰امریکائي ډالره
دیوي گڼه بیه:
- په افغانستان کی ۵ افغانی
- په اروپا کی ۲ یورو

Konto no 2616829
BLZ 36050105
Sparkasse Essen
Dr.Harakat Sher Aga